د جهاد شهادت اسلامي سيستم ...
تر هغو ... شهيد ...
(٤) صفحه
شهادت
ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان
شمارهٔ مسلسل (١٠٥٩) سال هژدهم -شمارهٔ (١٤٦) يکشنبه (٢٤) جدي ١٣٧٤ هـ ش (٢٤) شعبان المعظم ١٤١٦ هـ ق (١٤) جنوري ١٩٩٦ م .

دحزب اجرائيه شورى ، دمسعود طرحه ردكره

دهرى طرحي لپاره داستاد رباني استعفى حتمي شرط دي

په کومه ورځ چې بى طرفه اداره جوړه شوه ، په هماغه ورځ لاري پرانيستلي كيږي اودايمي اوربند نافذيږي

پېښور - دجدي ٢٣ مه :
دحزب اسلامي افغانستان اجرائيه شورې چې دپنجشنبې په ورځ ئي دحزب دامير وروره«حکمتيار» ترمشرې لاندې غونډه وکړه . دهيواد په روانه وضع اوږدبحث وکړ اواحمدشاه مسعود په اصطلاح دسولې هغه څلورفقره ايزه طرحه ئي چې دتيرې چهارشنبې په ورځ اعلان «شوه» ردکړه .

دحزب رسمي ويندوي او د ارشادوفرهنگ سرپرست استاد قريب الرحمن «سعيد» شهادت ته وويل چې دمسعود په طرحه کې هيڅ کومه نوې خبره نشته اوداپلان دتوموړي دپخوانيو هغودريځونو تکرار دی چې په تيروتقريباً څلوروکلونوکې ئي نه يواځې دسولې په راوستو کې مرسته ونکړه ،بلکې ورځ په ورځ ئي جګړه پراخه اودهيوادبحران ئي پيچلې کړ.

استاد سعيد زياته کړه چې دحزب اسلامي له نظره دسولې دهرې طرحې لپاره بايد داستاد «رباني» استعفي حتمي شرط وي .

دحزب ويندوي وويل چې :کله دکابل اوسنې اداره چې دجګړې لوی عامل ده منحل شوه اويه ځای ئي دتولو په خوښه بې طرفه اداره رامنځ ته شي، په هماغه ورځ به په هيواد کې دايمي اوربند نافذيږي اوټولې لوئې لارې به پرانيستلې كيږي .

> **الهى لاربوونى**
>
> کله چې کومه ښځه دخپل ميړه له ناوړه چلند يامخ اړونې څخه په ويره کې وي توهيځ باك نشته که ميړه اوميرمن (دځه حقوقو په کمولو زياتولو باندي) په خپلو منځوکې روغه جوړه وکړي . روغه جوړه په هرحال ډيره ښه ده . نفس دزړه تنگي خواته ډيرميلان کوي، خوكه تاسې داحسان له لارې پيش آمد وکړي اوله خدايه وويريږي ، نوباوروليري چې الله به ستاسي له دې ډول کړو وړونه بې خبره نه وي . (النساء - ١٢٨)

ترجمه قرآنكريم درمسجد جامع نصرت مينه آغازگرديد

نصرت مينه - ٢٣ جدي :
بتاريخ بيست وپنجم ماه شعبان ترجمه قرآن کريم درمسجد جامع نصرت مينه آغازميبابد .
خبرنگاره شهادت ازنصرت مينه گزارش ميدهد که بتاريخ ٢١ شعبان المعظم جلسه يي به اشتراك علماء کرام دردفترجماعت علماي اسلام دايرگرديده بود . دراين جلسه بادرنظرداشت پروگرام هاي دعوتي وتربيتي اين اداره فيصله بعمل آمد : که سرازتاريخ بيست وپنجم ماه شعبان المعظم الي اخير برج رمضان بطور مستمر روزانه بعداز نماز پيشين تاساعت چهارعصر توسط عالم جيد مولوي محمد عارف «بزرگ» ترجمه صورت گيرد.

ص (٤)

به نوشته «نيوز» روزنامه پاکستان

اسلام آباد طرح مسعودرا قدمى به عقب ميخواند

حل بحران افغانستان ازطريق صلح اميز بعيد بنظرمي رسد

اسلام آباد - ٢٣ جدي :
پاکستان پيشنهاد چهار فقره اي احمدشاه مسعود را ردنموده آنرا قدمي به عقب خـواند . روزنامه نيوز درشماره روزجمعه تحت عنوان « اوضاع افغانستان دردامه مينگارد: گروه هاي مخالف ازجمله طالبان نيز اين طرح احمدشاه مسعود را که روزجمعه درکابل اعلام داشت ردنموده اند .

اين طرح شامل تنفيذ آتش بس ، بازگشايي شاهراه هـا ، مبادله اسراي جنگي وادامه مذاكرات بخاطر انتقال قدرت ميباشد . يکي از اهداف مشهود اين طرح اينست که وضعيت جاري نظامي

ص(٤)

ايران و پاكستان در رابطه با مسئله افغانستان خواستار رفع سوء تفاهمات اند

هردوكشورتلاش دارند به نقطه نظرات يكديگر آشنا گردند

اسلام آباد - ٢٣ جدي :
هردوکشورپاکستان وايران دررابطه بابحران جاري درافغانستان واعاده صلح وامنيت دراينکشور آرزودارند ازبروز سوء تفاهمات جلوگيري نمايند .

به گزارش منابع خبري پاکستان يك سخنگوي وزارت خارجه پاکستان دريك کنفرانس مطبوعاتي پيرامون سفراخير دوکتور ولايتي وزيرخارجه ايران به اسلام آباد گفت که هردوکشور تلاش دارند تابه نقطه نظرات يکديگر به ارتباط وضع موجود درافغانستان بيش ازپيش آشنايي حاصل نمايند تا درروشني آن بتوانند ازبروز سوء تفاهمات درروابط دوکشور به ارتباط بحران افغانستان جلوگيري نمايند .

نطاق وزارت خارجه پاکستان درمورد عکس العمل رسمي کشورش به ارتباط طرح ارائه شده ازجانب مسعود گفته است : دراين طرح هيچگونه اشاره يي به کناره گيري رباني ازقدرت نشده است. وي همچنان به جواب اين سوال که ميان پاکستان وايران برسرمسئله قانوني بودن وغيرقانوني بودن اداره رباني اختلاف است آيا اين اختلاف ختم شده است ؟

گفت ميعاد رياست رباني درسال ١٩٩٤ ختم شده است گرچه رباني درسال (١٩٩٥) به محمود مستيري وعده داد که وي آماده انتقال قدرت به يك مرجع قابل قبول براي افغانها است اما تاکنون وي به اين تعهد خويش وفانکرده است .

مسعود، مولوى «محمدى» اومولوى «خالص» ته د اقتدارسپارل ، طالبانوته دواك دسپارلوپه معنى بللى

دكابل ادارى مهمى حلقى د استاد «سياف» هڅي ،دكابل رسمي دريځ نه ، بلكى دهغه شخصى دلچسپى گڼي

استاد سياف په ځانگړيو غونډوكى دمسعوداورباني شكايتونه كوي

اسلام اباد دمخالفينودمتحد كولو هڅي گړندى كړى دى

جلال آباد - دجدي ٢٣ مه :
له جلال آباد نه دوشهادت « ځانګړي خبريال دېوې باورې منبع په حواله ليکي چې په تيرو ورځوکې داتحاد اسلامي مشراستادسياف دحرکت انقلاب اسلامي افغانستان لـه مشر مولوي محمدنبي محمدي سره په دې باب چې کابل اداره چشتړده واك له استادرباني څخه توموړي ته وسپاري، خورا وړاندې ولاړاوداوئي ووکړچې که مولوي محمدنبي «محمدي» دطالبانو غورځنگ په دې قانع کړي چې ده (محمدي) ته داقتدارسپارلوپه صورت کې له جګړې لاس واخلي او دمولوي محمدنبي محمـدي تر قيادت لاندې جوړېدونکې اداره قانوني وبولي . نوبيا به په ګډه ددې هڅه وکړي چې دتنظيمونو نورورهبران هم راضي کړي اوبالاخره ديوې ګډې غونډې په ترځ کې ددولت درئيس په حيث دمولوي محمدي ټاکنې ته داتفاقي اوګډې پريکړې بڼه ورکړله شي .

(٤)مخ

استاد سياف

مولوي «خالص»

مولوي «محمدي »

احمدشاه مسعود

دمصريوي پوځي محكمي (٦) مسلمان مبارزين په مرگ محكوم كړل

قاهره - دمرغومي ٢٣ مه :
دمصريوې پوځي محکمې شپږتنه مسلمان مبارزين دمرگ په سزامحکوم کړي او ١٣ تنو نوروته ئي د(١٥) کاله سخت قيد سزا ورکړي ده .

دفرانس پريس خبري آژانس وائي چې همداراز نوموړي محکمې شپږتنه نورمبارزين خوشې کړي دي .

نوموړي آژانس وائي چې په محکوم شويو کسانو دغې غيراسلامې محکمې دوسلو اوانقلابي موادودساتلو اودمصر دحکومت درانسکورولو تورلگولي دي .

په سروبي كى د ورور «حكمتيار» دمهمي وينا متن

په دى ويناكى ورور«حكمتيار» د هيواد روانه وضع او په وړاندى يى دحزب دريځ توضيح كړى دي

جگړه يو فشاردى خو سوله نشي راوستلاى

مولوي خالص

خالص سره وکتل اودروان بحران په اړه ئي له نوموړي سره خبري وکړي .

جلال آباد - دمرغومي ٢٣ مه :
دهيواد دروان بحران دحل په اړه دننگرهار دپوهنتون داستادانو يوهيئات له مولوي صاحب محمديونس «خالص » سره وکتل . دشهادت خبريال له جلال آباده ئه ربوټ راکوي دهيواد دروانو ستونزو دحل په اړوند پرون له غرمي وروسته دننګرهارپوهنتون داستادانو دسولې هيئات داوي دغارم په کلوپ کې داسلامي حزب له مشر مولوي صاحب محمديونس ددغي کتنې په ترځ کې مولوي صاحب «خالص » د ننګرهار دپوهنتون داستادانو دسولې هيئات ته دخپلو خبرو په ترځ کې ويلي دي : جګړه سوله نشي راوستلی، دجګړې دوام يوفشاردي او دستونزوحل کيداي نشي . ستونزې بايد داسلامي معيارونو په نظرکې نيولو سره دخبرواوتفاهم له لارې حل شي .

(٤)مخ

قوماندان جديد قواى زمينى پاكستان آغازبكاركرد

منظره ايکه افغانان بيصبرانه منتظر ديدن شبيه آن درکشورخود هستند :
انتقال مسالمت آميز قدرت : راولپندي - پنجشنبه :
جنرال عبدالوحيد (سمت چپ) پس از ورود جنرال جهانگير کرامت قوماندان جديد قواي زميني پاکستان (سمت راست) به مقر قوماندانی آن قوا ،رسماً باوي وداع ميکند

اسلام آباد - شنبه :
جنرال جهانگير کرامت قوماندان جديد قواي زميني پاکستان روزشنبه رسماً آغازبکارکرد .

جنرال عبدالوحيد قوماندان قبلي قواي زميني روزپنجشنبه متقاعد گرديد وازآنجاييکه روزجمعه درپاکستان همچون سائر کشورهاي اسلامي ، مرخصي عمومي است ، شنبه روزآغازکارجانشين وي يعني جنرال کرامت بود .

جنرال کرامت قبل ازانتصاب به اين پست، داراي رتبه دگر والي بودکه به محض انتصاب به پوست جديد، فوراً به رتبه جنرالي ارتقاء يافت .

رتبه جنرالي که درپاکستان پس ازرتبه دگر والي تفويض ميکردد، معادل رتبه سترجنرالي درافغانستان است درپاکستان لوي درستيز درمراتب

ص (٤)

براساس فرمان حكومت ازادكشمير:

كسى حق ندارد موجب آزار واذيت مهاجرين گردد

راولاکوت - ٢٣ جدي :
حکومت آزاد کشمير فيصله کرده است که مهاجرين افغان الي امرثاني ازکشمير اخراج نمي گردند.

منابع خبري پاکستان گزارش ميدهند که اين فيصله به خاطري صورت گرفته است که مقامات حکومت آزاد کشمير درانتظار اتخاذ يك پاليسي واضح ازجانب حکومت مرکزي اند تادرروشني آن به اقدامات عملي متوسل شوند .

درادامه گزارش آمده است که حکومت آزاد کشميرگفته است که به اثرخواست تعداد محدودي ، مهاجرين افغان را ازآزاد کشميراخراج نمي کنيم واين امرتازماني ادامه خواهد داشت که پاليسي حکومت مرکزي دراين رابطه اعلان گردد

همچنان حکومت آزاد کشمير هدايت داده تاتدابير امنيتي شديد اتخاذ گردد وکسي حق ندارد مهاجرين افغان را بزور ازمحلي اخراج نمايد . به همين ارتباط حکومت آزاد کشميردستورگرفتاري رئيس بلديه راولاکوت درکشمير آزادرا صادرکرده است

نامبرده درشورش هاي اخير برضد مهاجرين افغان نقش عمده داشته واز موتري که دراختياروي بود، مظاهره کننده گان استفاده ميکردند علاوه برآن پول بيت المال را نيز دراين راه مصرف کرده است .

محمود مستيري امروز ازاسلام آباد واردكابل مي شود

سهم رباني راه‌رحکومت آينده ميتوان حذف كرد

طالبان دريافته اند كه تسخير كابل ازطريق جنگ ممکن نيست

اسلام آباد - ٢٣ جدي :
محمودمستيري نماينده خاص سازمان ملل درامورافغانستان که روزجمعه وارد پاکستان شده بود امروز وارد کابل مي شود .

رسانه هاي خبري جهان گزارش ميدهند که اين ششمين دور ماموريت صلح اودر افغانستان خواهد بود ونامبرده بعداز ورود به کابل بابرهان الدين رباني رئيس اداره کابل به مذاکره خواهد پرداخت وسپس عازم قندهار مي شود ودرآنجاباسران گروه طالبان پيرامون اعاده صلح درکشور به مذاکره مي پردازد .

محمودمستيري فرستاده خاص سازمان ملل درمصاحبه مطبوعاتي دراسلام آباد پيرامون سفراخيرش به افغانستان اظهارداشته که طالبان بايد راه صلح را درپيش گيرند زيرا اکنون آنهاممکن دريافته باشندکه تسخير کابل ازطريق جنگ ممکن نيست . وي دراين مصاحبه مطبوعاتي درقسمت ديگر سخنانش گفت که اوطرح خاصي باخود ندارد اماپيشنهادهاي دارد که به اطراف شامل درقضيه افغانستان ارائه خواهد کرد

وي بيشتر به اين امرتاکيد ورزيد که ابتداء آتش بس صورت گيردومذاکرات آغازشود .

نامبرده اضافه کرده ميگويدکه فهرست سابقه کميسون انتقال قدرت داراي نواقصي است کـه بايد تغييرداده شود . مستيري درجواب به يك سوال ديگرراجع

ص (٤)

دجاپان دخيريه موسسو استازو له استاد خليلي سره وكتل

باميان - دمرغومي ٢٣مه :
دجاپان دخيريه موسسو استازو دوحدت اسلامي دعمومي منشي استاد عبدالکريم «خليلي» سره په باميانوکې وکتل .

دباميانوله ولايت څخه دوحدت اسلامي يوې خبري منبع دمخابروي تماس په ترځ کې شهادت ته وويل چې : دجاپان دهيواد دخيريه موسسو پنځوتنو استازو دباميانو په ولايت کې دوحدت اسلامي دعمومي منشي استاد عبدالکريم «خليلي » سره وکتل .

ددغې کتنې په ترځ کې دجاپان دخيريه موسسو استازو استاد «خليلي» ته دخپلو موسسو دچمتوالي په اړه داوورکړ اودافغانستان جگړه ځپلي ولس سره ئي دهرډول مرستو ژمنه وکړه .

وروسته بيا استاد «خليلي» دمنني په ځرگندونوسربيره دجاپان دهيواد دخيريه موسسو استازوته دهرډول مرستي داډورکړ.

داكترولايتي حين گفتگوبا وزيرخارجه هند :

به كمك كشورهاي منطقه تامين صلح درافغانستان امكان پذيراست

دهلي جديد - ٢٣ جدي :
داکترعلي اکبر ولايتي وزير خارجه ايران براي انجام يك سفرسه روزه روزگذشته وارد شهرنيئي هند شد .

به گزارش خبرگزاري ايران آقاي ولايتي پس از ديدار و گفتگوبامقامات پاکستاني وارد شهرنيئي هندوستان شده بعداً جهت مذاکره باسران هند عازم دهلي جديد پايتخت هند گرديد .

مطابق گزارش داکترعلي اکبر ولايتي حين مذاکره باهمتاي هندي اش اظهار داشته است که به کمك کشورهاي منطقه مي شود که در افغانستان صلح قايم گردد همچنان نامبرده به توسعه همکاري هاي اقتصادي بين کشورهاي منطقه تاکيد ورزيده است .

داکترولايتي گفته است که کشورهاي جنوب آسياوآسياي ميانه براي ايران داراي اهميت خاصي ميباشد ولي امريکا تلاش دارد تاازابط ايران بااين کشور هارابرهم زند وتشنج درروابط اين کشورها باايران ايجاد نمايد .

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانګرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنګ

سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»

تحت نظر هیئت تحریر

تیلیفون: ٢٥٦٣٧٨٩

آدرس پستی: ١٠٣٦ یونیورستی تاون -پشاور

«په ژوند دمیراث» حالت

اوس چي زموږپه هیواد کي څه روان دي، کوم مصیبتونه چي زموږ په ملت بیداد کوي، کومې مایوسۍ ئي چي په ذهن خوري دي، کومي ویري اوتروږمي چي په خپل انتظار کي ویني، کومي بي کفایتي چي ګوري، دکوموبي مسئولیتیو اوبي رحمیوچي ننداره کوي، شیبه په شیبه چي دکومي بلمرغي شاهددي ، په تورژل شویوهلوکوئي چي دوږیو لیوانوکومه لویه جوړه ده ،هرکس اوناکس ئي چي په کومه بڼه په سرنوشت کي لاس اچولي ، هره«مزدور» اودمزدور مزدور ئي چي په کوم ابتذال اوبي شرمي خان د«قیادت » حقدار ګڼي، داټول هغه ترخه واقعیتونه دي چي زموږ د ملت سرنوشت او مستقبل خورا خوفناک او له ویرو او اندیښنو ډک ښئي .

زموږپه هیواد کي وضع ډیره بي مثاله فوق العاده ده، ډیره زیاته خطرناکه ده ، ډیري خطرناکي لوبي پکي رواني دي اودلادیروخطرناکولوبو لپاره ئي نقشي جوړیږي . ځیني بهرني هیوادونه دخپلو ګټولپاره اوځیني دنورو دمنافعولپاره دخورابي مسئولیتي اوبدکرداري مظاهره کوي، هریو په افغانستان کي دخپلي خوښي اوضاع غواړي، دخپل انتخاب زعامت تپل غواړي اوپه دي کي دي چي څنګه دافغانانو په لاس دافغانانو دوژل کیدو دفاجعي له لاري له یوبل سره رقابت وکړي، یوبل په شاکړي اودافغانانو دخپلواکي، دپاماليدو اودهغوي د«وړیا » وینې دلښتیو دبهیدو په بیه زموږپه وطن کي خپل نقش ثابت کړي .

متأسفانه ځیني دقیادت «مدعیان» اودټانکونو، «والوتکو» او« لښکرو» خاوندان هم نسبت دي ته چي دخپل وطن شخصیتونه وي، دپردیو دسیاسي استاځیو اوپولځي آتشوپه څبردي، هغوي نه استقلال لري، نه دخپل ولس ،خپلواکي اوملي ګټولپاره کوم مشخص تعریف ورسره دي ،نه دقضایاوو دحل لپاره ورسره پرنسیپونه او خطوط شته . هغوي خپلوسیاسي اوګروپیکوګټو اوموجودیت ته دیوه یاڅوبهرنیوهیوادونو له ارادو، سیاستونو اوګټوسره پیوند ورکوي، اوخپله بقادهمدي پیوند په ټینګښیاکي لټوي .

ددي کسانواوځواکونو لپاره داخبره بي معني ښکاري چي سوچ وکړي ملت څه غواړي، اراده ئي څه ده ، دڅه په کولو قوم خوشحاله کیږي ، دڅه په کولو خپه کیږي ، له کومي لاري دولس ملاتړترلاسه کولاي شي اوکومې چارې ورته دملت نفرت راپاروي ، اصلاً په دي حساب نه کوي چي دملت ملاتړاو کرکه کوم نقش لوبولاي شي ، بلکي په دي باوردي چي پلاني اوبلاني بهرني پایتخت دي چي ددوي دواك اوبي واکي، «عزت» او «ذلت » فیصلي پکي کیږي ، نه دافغان ولس اراده اوقضاوت چي ددوي د «عروج » او«زوال » پریکړه وکړي .

داخورا دردوونکي فاجعه ده ، همدي فاجعي زموږملت اوهیوادته داسي حالت رامنځ ته کړي لکه په ژوندني چي میراث وي .

واضح ده چي باید ددغه ډول قیادت دمدعیانو دموجودیت په صورت کي دپردیو تحلیل زموږله ملت نه څه وي ؟ واقعیت دادي چي هغوي به موږ ته دانتهائي توهین په سترګه ګوري او په رښوسترګوئي وینو چي ذلیل او خوارموګڼي . کاشکي هغه مؤمن اومجاهد افغانان چي شخصیتونه اوکرکترونه ئي نه دي مسخ شوي ،مسئولیت احساس کړي ، خپل ملت راپورته کړي، متحدئي کړي اوله رواني فاجعي نه چي په هیڅ توګه دیوه عظیم الشان اسلامي ،ملي حرکت له ایجادنه پرته تري نجات ممکن نه دي، دهیواد دژغورني په «جهاد » لاس پوري کړي .

آیا رښتیا هم دسولي امکان شته ؟

استاد سعید

دکابل درژیم ددفاعي امورومسئول احمدشاه مسعود دتېري چهارشنبې په ورځ دیوي اوږدي وقفي وروسته یو ځل بیا دکابل داداري له اړخه په هیواد کي دبحران دحل په خاطر څلورفقره ئي پلان چي بسه کي د اوربند، دلاردخلاصون، دجنګي بندیانو دتبادلي او دسیاسي مذاکراتو پیل لسه پاره خبري شامل دي اعلان کړ .

داحمدشاه مسعود دپلان اعلان په داسي وخت کي منځته راغي چي دهغي ترمخه استاد رباني د یوه نوي ابتکارله مخي اعلان کړي وچي غواړي دهیواد هغه برخوته چي دهغي دمخالفینو داداري اوکنترول لاندي دي، دخپلو مخالفینوسره دبحران دحل په خاطر دخبرواترولپاره

دهیواد دسیاسي تنظیمونو هغو مشرانو چي داستاد داحتمالي سفر دنتایجوپوري ئي خپل څه امیدونه تړل دمایوسي سره مخ شول .

دافغانستان اوسني بحران دقدرت دخلادنه وکیدونه منځته راغلي دنجیب رژیم سقوط وکړ خوځیني داسي لاسونو لادپخوا څخه کارپیل کړو چي دنجیب درژیم نه راپاتې دقدرت خلادمجاهدینوپه لاسوکیدونه پرنږدي مجاهدینو نظامونه

> دافغانستان اوسني بحران دقدرت دخلادنه وکیدونه منځته راغلي دنجیب رژیم سقوط وکړ خوځیني داسي لاسونولادپخوا څخه کارپیل کړو چي دنجیب درژیم نه راپاتې دقدرت خلادمجاهدینوپه لاسوکیدونه پرنږدي، مجاهدینو نظامونه جوړکړل خوکارته پري نښودل شول . اوبالاخره دکابل دپایتخت ټولي اثاثي چي دټول افغان ولس ګډه سرمایه وه له منځه ولاړي . او کابل دکورني جنګ له پاره میدان وګرځول شراوودحاکمي ولي په خلاف عمومي پاځون پیل شو . ولس تري اعتماد واخیست ، او ورته وویل شوچي دخبرواترو له لاري دې حاکمه ډله اقتداریوي موقتي انتقالي اداري ته وسپاري . پرته له دې جنګ پاي ته مومي .

ولاړشي .

داستاد رباني دغه دراماتیك اعلان په ولس کي څه نوي امیدونه راټوکولي واو فکرکیده چي استاد رباني غواړي دخپل دغه اقدام له لاري دولس دستونزودحل په جهت کي داسي عملي کړنلاره خپلو مخالفینوته وړاندي کړي چي دیوي خواتي پري مخالفین قانع شي او دبلي لاري دجنګ اوفتنو دغه توري وریځي چي دهیوادوالو په سرګرځي لـه منځه ولاړي شي .

که څه هم استادرباني قندهاراومزارته دخپل سفر او دمخالفینو سره دخبرواتروله پاره کومه مشخصه اجنډانه وه بیان کړي دډیرو سیاسي مبصرینو نظرداو چي استادرباني پـه وتوانیږي ددغه سفر په جریـان کـي د خپلي استعفا اودقدرت دانتقال له پاره دیوه و موزون شخصیت » په تاکلو اویادوډقبول ور» کمیسیون په جوړېښت به دخپلومخالفینوتوافقات ترلاسه کړي اوکابل ته دراستنیدو سره سم به دهغي په عملي کولو پیل وکړي خواستاد رباني سفردځینو «تشریفاتي کارونو» له مخي وځنډید.

داستادرباني احتمالي سفراودهغي په احتمالي نتایجو باندي تبصري رواني وي چي احمدشاه مسعود خپل څلورماده اي دسولي پروګرام اعـلان کړ . داحمدشاه مسعود ددغـه پلان داعلان سره سم دافغانستـان د اوضاع دسیاسي کتونکو حدسونه پـه خپل ځاي پاتـه شول . او

جوړکړل خوکارته پري نښودل شول . اوبالاخره دکابل دپایتخت ټولي اثاثي چي دټول افغان ولس ګډه سرمایه وه له منځه ولاړي . او کابل دکورني جنګ له پاره میدان وګرځول شراوودحاکمي ولي په خلاف عمومي پاځون پیل شو . ولس تري اعتماد واخیست . او ورته وویل شوچي دخبرواترو له لاري دي حاکمه ډله اقتداریوي موقتي انتقالي اداري ته وسپاري . پرته له دي جنګ پاي ته مومي

حاکمي اداري دهماغه وخته راهیسي ،کله چي هم دسولي خبري پیل شوي ، دهیئتونو څخه ئي غوښتي چي ترهرڅه لمړي باید کابل ته تلونکي ټولي لویي لاري خلاصي کړل شي، اوربند وشي یعني

> داحمدشاه مسعود وړاندیزونوکي نوي څه نه شته چي تبصره پري وشي خودهغي دغي طرحي د"استادرباني دنوروهیئتونو هلوځلو ته پوره زیان وروړساوه . اوهغه څه چي په جلال آباد ،مزار اویا بامیانوکي پري بحث کیده دسوال لاندي راوړل .

ومخالفین باید وسله په ځمکه کیږدي اودولتي اداري ته بي له قیدوشرطه تسلیم شي ».

هغوي دسولي اوامنیت اعاده دخپل اقتدارپه دوام اودمخالفینوپه تسلیمیدوکي ویني ، خومخالفین بیا دیوه مستحکم اوثابت نظام له پاره داستاد داداري خنډول حتمي ګڼي اوددغه جنګونو او

ستونزو دراپیدا کیدو اساس اومبدأ هم همدغه اداره اوددي اداري په اقتدار کي دپاته کیدو « حیلي اوبهانې" ګڼي.

داحمدشاه مسعود دڅلورنکاتي پلان داعلان ترمخه دکابل له لوري څوهیئتونه په مختلفو سیموکي دمختلفو مشرانو سره دبحران دحل په خاطر په خبرواترولګیاوو . چي دهغي ولي څخه یوهیئت همدا اوس دالتحاد اسلامي دمشراستادسیاف ترمشري لاندي په جلال آباد کي په کارمصروف دي داستادسیاف سره داستادرباني دوه تنه ملګري «صدیق چکري » اوودانش یار» هم په جلال اباد کي موجود دي .

هغه خط چي استادسیاف ئي تعقیبوي نه یواځي داچي داحمدشاه مسعود دخط څخه جدا دي بلکه دوصدیق چکري » اوودانش یار» دخط څخه چي داستاد دهیئت ملګري دي هم جدادي .

دبحران دحل په خاطر استادسیاف دمولوي صاحب محمدیونس خالص اومولوي محمدنبي محمدي سره نژدي رابطي لـري . دخبري اطلاعاتوپه مطابق چي استاد سیاف مولوي محمدنبي محمدي پـه دي قانع کړي چي داستاد رباني څخه دقدرت دانتقال له پاره ځان چمتوکړي او داستاد وروسته دهیواد دجمهوررئیس پـه توګه کاروکړي . ترڅنګ ئي استاد سیاف دمولوي صاحب محمدیونس خالص سره هم تودي لیدني کتني لري اوغواړي چي هغه قانع کړي ترڅودبحران دحل په خاطرداستادرباني څخه دقدرت د انتقال پـه خاطر اودراتلونکي حکومت د ریاست له پاره دهغه خبره ومني . خوتراوسه مولوي صاحب خالص د استاد سیاف لخوا دغه وړاندیزته غاړه نه ده ایښي خومولوي صاحب محمدي دغه کارته آماده ښکاري . پخپله مولوي صاحب په یوي مرکه کي ویلي چي که داستادرباني په شمول ټول رهبران په جلال آباد کي سره راټول شي او په هغي غونډه کي استاد رباني خپله استعفا اعلان کړي او بیا ټول په ده (محمدي) باندي اعـتماد څرګندکړي نوحاضردي چي دغـه دروند پیټي داستادرباني داوږووښکته » اوپه خپله ئي په غاړه کړي. دمولوي صاحب په دغه شرط هم لاتراوسه پوري هیڅ اشیت پامنقي تبصره نه ده کړي .

خوبل خواداستاد سیاف دملګري هیئت دادوه کسان هریو « صدیق چکري» او « دانش یار» نظریات داستاد دنظرسره « که

څه هم په ظاهري توګه به سرووسره خوږوي » پوره توپیرلري .

هغوي په مختلفو غونډوکي داپه څرګنده توګه ویلي چي دکابل اداره حاضرنده چي واکمني ددغه دووجهادي رهبرانو څخه کوم یوته وسپاري . دهغوي نه داهم اوریدل شوي چي استادسیاف په داسي کارونو لګیادي چي دکابل اداره ورسره په هیڅ ډول توافق نلري .

داستاد سیاف دهیئت ترڅنګ دداکترعبدالرحمن ترمشري لاندي یوبل هیئت پوره ګرم اومصروف دي . هغوي دبامیانو ،مزارشریف اوکابل ترمنځ دخپل دیرتګ راتګ له امله یوهوایي پل جوړکړي . ډاکتر عبدالرحمن دمختلفو تنظیمونو سره مختلفي خبري کوي . کیداي شي په دي خبرو اترو کي ددولت ځیني مهم پوستونه خوځوګوندونوته په یوه وار وړاندي کړل شوي وي . خوتراوسه پوري دوي (ددولت اړخ) دخپلي دغه (دوه اړخیزه) پالیسي له مخي دتنظیمونوسره دتوافقاتو دترسره کولو له پاره کوم عملي قدم نه دي پورته کړي بلکه برعکس ئي خپل اعتماد دخبروکونکو جهتونوترمنځ کم کړي .

> داحمدشاه مسعود دڅلورنکاتي پلان داعلان ترمخه دکابل له لوري څوهیئتونه په مختلفو سیموکي دمختلفو مشرانو سره دبحران دحل په خاطر په خبرواترولګیاوو . چي د هغي ولي څخه یوهیئت همدا اوس دالتحاد اسلامي دمشراستادسیاف ترمشري لاندي په جلال آباد کي په کارمصروف دي داستادسیاف سره داستادرباني دوه تنه ملګري وصدیق چکري « اوودانش یار» هم په جلال اباد کي موجود دي .
>
> هغه خط چي استادسیاف ئي تعقیبوي نه یواځي داچي داحمدشاه مسعود دخط څخه جدا دي بلکه دوصدیق چکري « اوودانش یار» دخط څخه چي داستاد دهیئت ملګري دي هم جدادي .

رهاهنګي د شورا اوددولت پوري داړوند عنـو او هیئـتونو دخبرواترو ترڅنګ دادي محمودمستیري چي دملګرو ملتـونو لخـوا د افغانسـتان دبحران دحل په جـهت کي دځانګړي استازي په څیر کارکوي هـم دمختلفو جهتونوسره دخبرواتروله پاره اسلام آباد ته رارسیدلي . که څه هم ویل کیږي چي محمود مستیري داخل دخپل ځان سره دهیواد داقتدار دځلا دډکولو په خاطر یوخاص فارمول هم لري خوښاغلي مستیري دتیرو دوو کالو په دوران کي ونه توانید چي په جنګ کي دراګیرو طرفونو ترمنځ دتفاهم له پاره زمینه برابره کړي . افغانستان اوپاکستان ته دمحمود مستیري اخري سفر

هغه وخت یوځه امیدونه راپیداکړل چي داستاد رباني له اړخه ئي دقدرت دانتقال په خاطر ٢٨ کسیزلست له خانه سره راوړ، په هغه لست باندي چي داستادرباني داداري لخواپه یوه طرفه توګه تهیه شوي و ډیري ثانتدري راپورته شوي اودمحمود مستیري نه غوښتنه وشوه چي په لست کي داستاد داداري دمخالفینو نظریات راشامل کړل شي ترڅودغه لست په همدغه تعداد دټولو اړخونو له پاره دقبول وروګرځي، خـو متأسفانه چي ښاغلي مستیري په هغې جهت کي هیڅ ډول مثبت قدم پورته نـه کړاي شو . نوکه اوس ښاغلي مستیري دقدرت دانتقال له پاره دهداسي یوکمیسیون لست د ټولو اړخونو دنظریاتو په نظرکي نیولوپه اساس تهیه کړي اواستاد رباني هم ددغي رواني بدي ورځي دحساسیت احساس وکړي نودبحران دحل په جهت کي به دیرعمده قدم حساب شي .

په هرصورت استاد رباني اودهغوي لخوا مخالفینوته لیرل شوي هیئتونه اوهمدا رازپخپله انجنیر مسعود ته په کاردي چي دولس دپاکواحساساتو سره نوري لوبي ونکړي. اونه دي ددي نه زیات دولس په اعصابوسپریږي . دوي ته داهم په کاردي چي دبحران دموقتي حل اویادخطرذتهدید دسمدستي کمیدو پرځاي ، دهیواد دبحران ددایمي حل اوخطراتو دمکملي خاتمي په هکله غورواوفکروکړي .

داحمدشاه مسعود وړاندیزونوکي نوي څه نه شته چي تبصره پري وشي خودهغي دغي طرحي داستادرباني دنوروهیئتونو هلوځلو ته پوره زیان وروړساوه . اوهغه څه چي په جلال آباد ،مزار اویا بامیانوکي پري بحث کیده دسوال لاندي راوړل .

دهیواد بحران دحل امکانات دپخوا په نسبت اوس ورځ په ورځ کمیږي. هیواد داستقلال اودحمکي دتمامیت دښمنان په سنګرونوکي د فرصت دپټناکیدو انتظار باسي . قومي او ژبني تعصباتو ته هواروکول کیږي، په دي اساس باید ټول مسئولین (دکابل رژیم ، دهماهنګي شوري اوطالبان) دهیواد ددغه بحران دحل اوهیواد دتجزیه کیدو څخه دپه څنګ کولو په خاطریوبل ته سره رانژدي شي او دتاریخ دتورداغ څخه خانونه محفوظ کړي .

البته دامسئله ډیره زیاته دکابل داداري دمسئولینو پوري ربط لـري چي ایا غواړي دابحران حـل کړي اوکه غواړي هیواد دنورو تباهیو پـه ګرنګونوکي وروغورزوي .

حال دویلو لایق نه دی
ګنـــاه ؟؟؟

میوند

په جنوبی کوریا کی دیوه اپارتمان خاوند دبی پروایی په جرم په لس نیم کـاله بند محکوم شو . همدارنګه ٢٧ تنه نور همد بیلابیلو مـودوپه بند محکوم شویدی . پیښـه داسی وه چی دیوی لویی مغازی په نړیدو د ٣٧ تنو په شاوخوا کی مشتریان اولاروبیان ووژل شــول . دنړیدو علت د اپارتمان په جوړیدو کی دسمنټو اومسالی کمښت او هم پدی اړه د لازمو احتیاطی تدابیرونشتوالی ښودل شوی دمغازی خاوند چی نقـدی جریمـه هم پری لګول شـوی دنړیدو دنخښو له څرګندیدوسره دخلکو په ایستلو کی دجدی اقدام په نه کولو هم تورن شویدی .

دابو خبر ؤ چی مطبوعاتوهم خپورکړ رادیو ګـانو هم - هره ورځ مطبوعات په سلګونو خبرونه ، خپروی دمرګونو خبرونه دحادثو خبرونه دغم خبرونه دتباهي ورانی اوبربادی خبرونه - مطبوعات په خبرونو ژوندی وی - په خبرونو چلیږی او خبرونه یې بازارګرم ساتی .

مطبوعـات اوچلونکی یې دی ته ناست وی چی څه پیښـه وشی . څوك مړ شی چیری حادثه پیښـه شی . چیرته تباهی اوورانی رامنځ ته شی - جنګ جګړه وشی ، بمباری وشی توغندی ولویږی خلك مړه اوزخمیان شی .

یووخت دبی بی سی د فـارسی پروګرام دلیکونو ځـانګی ته چا یو لیك لیږلی ؤ . چی خــدای (ج) په یوه ورځ داسی هم راولی چی دځمکی پرمخ هیڅوك ونه وژل شی .

اوهیڅ حادثه پیښـه نشی اوتاسی دخولی چوله کرلیو لپاره هیڅ ونلری څنګه په بربر دخدای دبندګانو دمرګ وژنو - تبی کولو ورانی - بربادی اوغمونو او دردونو خبری کوری بیله دی چی پری ودردیږی همدی ته ناست یاست چی چیری انسانان ووژل شی حادثې وشی وینی تویی شی ورانی بربادی جوړه شی اوتاسی یی خبرونه خپاره کړی اوږالرواخلی.

لطف علی ختجی چی په خپل ځانګړی انتازیی لیکونو ته ځوابونه ورکول وویل : کـاشکی داسی وشی ده وویل یوه ورځ (نیتـه یی له ماهیره ده) داسی هم وه چی

سونږ: دخپرولو لپاره هیڅ خبر نه درلود . دپروګـرام وخت راورسـیـد خـومـونږ دویلواووولو لپاره هیڅ نلرل .

خبره بله خوا ولاړه زمامطلب دجنوبی کوریا دیوی مغازی ترنړیدو اودبی پروایی په هرتور دمغازی دخاوند په لسوکالو بند محکومیدل وو.

ددغـه محکوم ګناه بی پروایی ښودل شـوی په جنوبی کـوریا کی بی پروایی هم جرم دی .

خو په مملکت خدا داد افغـانسـتان کی هیڅ ګناه جـرم نه ده . دلتـه مـجـرم - ګنهګاراوتورن ببیځی شته نه . دټولو لمن پاکـه ده دخیـانت اوجنایت هیڅ نخښـه اوامکان نشتــه ، ځکه خـومحکمـه اومحاکمه نشته قانون نشته، مجازات نشتـه ، له همدی ځایه ده چی د وکیل ، قاضی اونظام ضرورت هم نشته .

کـمونسـتانو چی وطن وپلوره بیګناه افـغـانان بی ووژل - وطن بی وران کـړ دروسی لښکرو په مخ کی بی خـپل ولس قتل عام کړ خو پرمجرم - ګنهګار او خائن چاګوته هم کینښوده . محاکمه اومجازات خو په ځای پریږده .

دادری دری نیم کـاله چی داســلامی انقلاب مدعیانو کابل لوټه لوټه کړ دخلکو عزت اوعفت یې له خپلو هوسونو قربان کړ دملت ملی ارځښتونه اسلامی اقدار اوتاریخی آثار ئي شتمنی پکی لوټ شوی خود مجرم ګنهګار، جانی اوخاین هیڅ درك معلوم نشو.

دلته کورونه او اپارتمانونه په ټوپونوړول کیـږی - په ټوپونو وژل کیـږی . بمباری پری کیـږی د اوروتو خو راك ګرځی . دانسان

وینی دساتیری اوتفریح لپاره تویږی .

- له مرګونو خوند اخیسـتل کیـږی . مرګونه لکه یوضرورت لکه یوه پیښه اولکه د ژوند یوعمل داسی ګرځیدلی دا ځکه چی دلتـه ګنهګار نشتـه ، مجـرم نشتـه ، محکمه اومحاکمه نشته قانون اونظام نشته ، هرڅه شتـه خوهیڅ هم نشتـه هغه چی بایدنه وی هغه شته هغه چی باید وی هغه

هیڅ نشته .

ما اوریدلی کـه می چیری لوستـی چی په سویس کی پولیس نشته » فقط دوولس تنه پولیسی یونیفورم آغوندی چی چیرته دپروتوکول له مخی ورته څه ضرورت پیښ نشی .

خو زمونږ: په وطن کی هرڅه روا دی - چی کوم ځای هرڅه روا اوممکن وی هلته بیا

په رښتـیـا هم دنظام ،قـانون محکمی اومحاکمی ضرورت نه وی هلته چی څوك هرڅه کولی شی دنه کولو - مه کوه اوولی دی وکړل سوال نه پیداکیږی - هلته چی په اصطلاح جمهورییس هم په عجـز اوزاریو

خپل حکم په ماتحتانومنی اویه هره خبره کی دبل اشـاری ته ګـوری او په اړګ کی دجمهـوررئیس او دباندی دیوه ټوپك واله واك اختیار یوډول وی هلته داخبری عبث دی دا امیدونه بیځایه دی اودا ویتا غیر ضروری ده .

زمونږ دوخت دیاستونو دعویدارمخونه چی آئینی ته مـخـامخ شی نو بدرنګه ښیږی .

په سروبی کی د

وژني، باید دبیت المال حرمت وساتلي شي باید په بیت المال کي خیانت ونشي، بیت المال باېدالهي امانت وګڼل شي، دادي دخلکوامانت وشمیرل شي، داستاغنیمت نه دي چي په زوردي ترلاسه کړي. زموږ څلورم شرط هم دادي چي په بیت المال کي دي دناروا اوخاینانه تصرف په کلکه مخنیوي وشي .

پنځم شرط موداوي چي دافغان ولس دسرته دي دظالمانو،مفسدینواودملحدینو دتسلط لاس قطع شي داچي په هره ګوښه کي ګـورو، ظالمان زموږ پرقوم مسلط دي دبرچي په زور په افغانانو باندي حکومت کوي غله اوداړه ماران په افغانانو مسلط کوي، بي دینه ،بي عقیدي خلك مفسدین، باید دمفسدینولاس قطع شي، اوبریږدي چي افغان مظلوم ولس آرام نفس وکاږي.

وروستوا ټول باید په دي پوه شي چي دځو پوستوپه نیولو سره څوك په افغانستان حکومت نشي کولاي متاسفانه ځیني داسي دي چي دوه دري پوستي ترلاسه کړي دریات غرور اوتکبرنه آسمان

سره خبري. کوي خوچي بیا څه سنګرونه له لاسه ورکړي، دومره ذلیل اوسپك شي چي هرذلت اوسپکاوي ته غاړه ردي. په څوپوستو څوك ټول افغانستان نشي ختم کولي . پرټول افغانستان حکومت نشي کولي، متاسفانه ځیني بیا داسي دي چي کله وګوري یوه پله درنه ده کیداي شي داپاتي شي ، هغه ته لاس اوږدکړي ، هغه ته سرټیټ کړي په څرپیسوخان خرخ کړي ، خپل تعهد تریښولاندي کړي ، خپل ایمان خرخ کړي .

افغانستان څوك په زورنشي فتح کولاي، په افغانستان باندي څوك په زور حکومت نشي کولاي، باید ټول په دي خبره پوه شي چي دلته دافغانستان دفتح کولو اودکابل دفتح کولو خبره نه ده دافغانستان دمسئلي دحل خبره ده دخپل مظلوم قـوم د ژغورني خبره ده په افغانستان کي دیو اسلامي حکومت دقایمولو خبره ده .

طالبانوهم داګرمان کولو چي سبایله ورځ به پلچرخي لیسي حتی پخپلومنځونوکي بي ویل پام کوي چي

دحزب اسلامي لاره بنده کړي چي هغه دسروبي اوماهیپر له خوانه رامخکي نشي اوکابل په نیولو کي هغه هم له موږ سره شریك نشي اویوه برخه دهغه په لاس کي پري نه وځي . ولي وموليدل چي له هغه سره څه وشول، معلومه نده چي سباڅه کیږي ، سبا به بیاڅوك وي بابه نه وي ټول دي په دي پوه شي چي حق پاتي کیدونکي اوباطل ختمیدونکي دي .

باطل داسي دي لکه داوبو (خګ) هم هغه چي له حنګوته ګټوري اومفیدي اوبه دزګوبو حس واخشاك پټي کړي اوله نظرونونه پټي شي ولي الله پاك فرمايي چي داختمیدونکي دي، داوبوخګ له منځه تلونکي دي، هغه حه چي دخلکولپاره مفید، اوګټور دي هغه پاته کیدونکي دي. ټول باید په دي پوه شي چي بهرني قوتونه نه تا اقتدارته رسولي شي اونه دي په اقتدارکي ساتلي شي دخورورخولپاره دي دخپل قوم په خلاف جنګیږي ، دخپلوګټودترلاسه کولو لپاره ،بیابه دي دتاریخ زباله دان ته سپاري .

نوربیا

په سروبی کی د ورور حکمتیار دمهمی وینامتن

دجدي په شپږمه چې دحزب اسلامي افغانستان امیر ورور «حکمتیار» په سروبي کې جوړې شوې غونډې ته کومه وینا وکړه دهغې متن دګرانولوستونکومخې ته ږدو:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .
الحمدلله وکفي والسلام علي عباده الذین اصطفي وبعد .
فاعوذ باالله من الشیطن الرجیم
« فاستجاب لهم ربهم اني لااضیع عمل عامل منکم من ذکر اوانثي بعضکم من بعض ، والذین هاجروا واخرجوا من دیارهم واوذوفي سبیلي وقاتلوا وقتلوا لاکفرن عنهم سیئاتهم ولادخلنهم جنت تجري من تحتهاالانهار ، ثواباً من عندالله والله عنده حسن الثواب » صدق الله العظیم

ورونو ! ددې تاریخي ورځې په مناسبت زه څو مختصر مطالب لرم . لومړي دآیت شریف په رابطه توضیح بیادشپږم جدي په هکله او دروسي تجاوز

> له هغې ورځې نه بعد چې دا مذاکرات تکذیب او تردید شول موږ بیاهم کوشش کړي چې حتماً ددې ائتلافي اداري دټولو مخالفینوترمنځ دي یوقوي، منظمه او دوامداره ، سیاسي او عسکري جبهه جوړه شي، موږ په ټول صداقت اواخلاص سره ددغسي جبهي دجوړولو لپاره هڅه کړي طالبانوسره مو هم ډیري مرستې کړي ، کم له کمه زه دومره ورته ویلي شم چې موږ دهغوي پرخلاف تبلیغات ونکړل، دهغوي پرخلاف مولوي مسعود سره ملګرتیاونکړه چې سخت ضعیف وه اوتقریبي دټولیدو په حالت کې و که موږ دمسعود ملاتړکړي واي، ډیره ګرانه وه طالبانوته چې هغه دي له هغه وضعیت څخه ځان سالم اوروغ رمټ وباسي.

دعواملو په باب مختصر څه وایم ، وروسته دروسي پوځونو له وتلو نه بعد دجریاناتو په هکله غزیزم اوبیا په اوسنیو حالاتو کې دحزب اسلامي موقف توضیح کوم .

الله (ج) دهغوکسانوپه ځواب کې چې الله (ج) ته دعا کوي چې خدایه موږته زموږګناهونه وبښي اوله موږنه زموږسیئات ختم کړي اوزموږ په باب هغه وعدي ترسره کړي چې تادپیامبرانوپه ذریعه له موږسره کړي . فرمایي وفاستجاب لهم ربهم » الله (ج) دهغوي دعاقبوله کړه اودالله پاک پریکړه ، فیصله اوځواب داوه چې زه دهیڅ عمل کوونکي عمل نه ضایع کوم ، که هغه سړی له جملي نه نارینه وي اوکه ښځي، اوهغه کسان چې دالله په لاره کې ئې هجرت وکړ له خپلو کورونونه وایستله شول اودالله په لاره کې اذیت اوآزارشول اوجنګیدل اودهغوي سره جنګ وشو، هغوي په قتل ورسیدل حتماً به دهغوي ګناهونه معاف کړم دهغوي سیئات به اصلاح کړم اوهغو جنتونوته به یې داخل کړم چې تریندګلوراوباغونولاندي به یې ویالي بهیږي ، دادالله له لوري بدله ده اودالله په نزدګي غوره اوبهتره بدله شته‌ده .

وروسته فرمایي چې « فلایغرنك تقلب الذین کفرو في البلاد » دکافرانو تګ راتګ په ښارونوکي موږوکه تکړي دهغوي له شان اوشوکت ،شمیر، وسایلو اوامکاناتوته ،وته ویریږي ، دادنیا قلیله متاع ده ، دهغوي پاي جهنم اودوزخ دي اوهغه داوسیدو ډیربدتر ځاي دي .

ورونو!په دې آیت کې الله مسلمانانو ته ددې اطمینان ورکوي چې هغه باید دخپل دعمل دپاداش اوبدلي ته په دنیا اوآخرت کې داډه اومطمئن وي ، الله به دهغه پاداش نه ضایع کوي، هغه چې دخداي په لاره کې وتلي، دخپل کورونه شړل شوي، له خپل ملك نه ایستل شوي ، دالله په لاره کې ئې جهاد کړي، وژل شوي دهغوي پرخلاف جګړه شوي، هغه به مطمئن وي چې الله دهغوي ګناه وبښي اوښیګه بدله به ورکوي .

تاسوعملاً دالله (ج) ددي وعدي مصداق پخپلوسترګوولید ،افغانان دالله دکلمي داوچتولو لپاره راولاړشول قرباني ته چمتوشول ، کورونه وران شو ، هجرت ته مجبورشول له ملك نه ووتل، زامن یې په قتل ورسیدل، خوبالاخره الله (ج) دهغوي دقرباني په نتیجه‌کې

بدله هغوي ته ورکړه ، دروسانو په شان یولوي ځواك له ماتي ،ذلت اورسوایي سره مخامخ شو ، دټولي دنیا دتصور په خلاف هغه لویه امپراطوري په افغانستان کې دړي وړي شوه اودهغه زوال له افغانستان نه دافغان مجاهدینو په لاس پیل شو.

ورونو! شپاړلس کاله دمخه چې کله افغانستان ته دکمونستي سیلاب ترپیدل پیل شو او وریسي دافغانستان داسلامي هویت دختمولو لپاره دروسانوهلي ځلي شروع شوي، کمونستي احزاب په ملك کې جوړشول، ددغه احزابو په لاس په لومړي قدم کې دداود ترمشرتابه لاندي سپینه کودتاه دظاهرشاه نظام دختمولولپاره په لاروليده ، روسانو غوښتل چې شاهي نظام ددغسي کودتا له لاري ختم کړي داود کودتا دروسي پوځونو دتیري دتجاوز [illegible]

بوي خوا هغه شاهي نظام چې چاتي دختمیدلو تصورنشواي کولاي ، اومقدس ګڼل کیدو، هغه ختم کړي او له بل لوري کمونستان ددولت په حساسو پوستونوکي مستقر کړي اوبیا له همدي لاري دکمونستانو دکامل تسلط لپاره لاره

هواره کړي همداسي وشول ، کودتاه ترسره شوه ، شاهي نظام ختم شو کمونستانو ددولت حساس پوستونه اشغال کړل، دداود ترسیوري لاندي ،هغوي په حساسو پوستونوباندي مسلط شول او له همدي لاري دکمونستانو دکامل تسلط لپاره لارهواره شوه .

واقعیت دادي چې په افغانستان باندي دروسانوتسلط اوددي ملك داشغال مقدمه دداود کودتا وه ، تاسو ولیدل چې

کمونستانوپر په آساني سره دداود رژیم ختم کړ او غوښتل یې چې په افغانستان باندي په کامل طورکمونستي نظام تحمیل کړي اوددي پراوضاع باندي مسلط کړي دکمونستانو دراتلوته بعد او دهغوي دتحریك دشروع کیدونه وروسته اوبیا چې کله دداود په وخت کې هغوي پراوضاع مسلط شوي اوبیا چې هغوي دد اود پرخلاف کودتاکړي اوقدرت ئې ترلاسه کړي په دې ټوله اوږده موده کې په فکري اوعسکري لحاظ دکمونستانو پرخلاف په مبارزه کې ، حزب اسلامي په سنګرکي براخې و .

دلومړي ځل لپاره داسلام بیرغ په افغانستان کې حزب اسلامي پورته کړي ، داسلام طرف ته دبلني تحریك دحزب اسلامي دسرتیرو مجاهدینو په لاس پیل شوي اوبیا دکمونستانو پرخلاف وسلي ته لاس کړل، دادحزب اسلامي په لاس ترسره شوي، داافتخار، داشرف اوسعادت دحزب اسلامي دسرتیرو مجاهدینو په برخه شوي دي .

موږچې داخبره احساس کړه چې نن دداود ترسرپرستي لاندي په حقیقت کې په اوضاع کمونستان مسلط دي اواقتدار دکمونستانو پسه لاس کې دي، دملك آینده خطرناکه ده ، سوروسیلاب راتلونکي دي، کـه ددي مقابله ونشي افغانستان دکمونیزم په ستونوکي دپریوتو په حال کې دي، تحریك پیل شو دداود پرخلاف موږ مسلحانه جهاد شروع کړ، دهمدغه جهاد په نتیجه کې داود مجبورشوچې خپل سیاست کې تبدیلي راولي، دده او کمونستانو ترمینځه اختلافات شروع شول ، له روسانونه رابیل شو اوبالاخره روسانوددي لپاره شرایط مخکي له مخکي نه تیارکړي وو، چې په یوګوزارسره داود له صحني لرې کړي، کمونستان پـه اوضــاع مسلط کړي، کمونستانو دیوي کودتا په نتیجه کې اقتدارترلاسه کـړ او د حــزب اسلامي مجاهدینو په دوو ورځو بعني په اوم دثورهغوي کودتاوکړه اود۱۳۵۷ کال دثور په اتم او نهم موږ «پکتیا دوزیروك» له علاقداري نه مسلحانه جهاد شروع کړ .

دي جهاد ادامه وکړه ، ولایتونه اوولسوالي یوپه بل پسي آزاد ي شوي، خبره ترکابل ورسیده ، کابل دفتحي په درشل کې و، مجاهدین کابل ته دننوتوپه حالت کې وو، امین اوتره کي داتوان اومقاومت په ځانو کي نه لیده چې هغې ، «هدیتوتحریك په وړاندي ودریږي ، روسانوهم دااحساس کړ،چې که افغانستان ته پوځونه ونه لیږي کابل دمجاهدینوپه لاس سقوط کوي، پداسي حال کې چې موږ دکابل په دروازوکي وو، اودفتحي په درشل کې وو کمونستانو دمقاومت توان له لاسه ورکړي و.

روسي پوځونه افغانستان ته راغله اوهغوي امین په قتل ورساوه او ببرك یې کابل ته راوستاوه ببرك دروسي پوځونودراتلو دامتصوبه دغسي توجیه کوي ، په خپله لومړي ویناکې چې له تاشکند نه چې ګویا دحکمتیاراودامین ترمنځ دیوخطرناکي کودتاپرسرتوافق شوي چې ددغه کودتا دشنډولو لپاره موږ مجبورشوله روسانوته مرسته وغواړو اودروسانومحدودشمیر مسلح ـقطعات دهغه‌غی لسوي توطئي د شنډولو لپاره افغانستان ته لیرل شوي . دروسانو پرخلاف جنګ [illegible] ګټلو، [illegible] چې په

افغانستان کې خواصلاً سیاسي ، جهادي ،اسلامي احزاب چې تاسي یې نن ګورئ، نه وو، بهرکي لویولویو ملکونو هم ددي تصور نشوکولاي چې څوك به دروس مخي ته ودریږي دهغوي مقابله به وکولاي شي افغانان به په خالي لاس وتوانیداي شي چې دروس مخي ته تم شي ولي بیاهم دحزب اسلامي سرتیري په خداي مین اودالله په لاره کې شهادت ته چمتومجاهدین وروچې دروس پرخلاف په سنګرونوکي پاتي شول او دروس دراتلونه بیا دهغوي تروتلو پوري دافغان قوم په دي مقاومت کي ترټولولویه ونډه دحزب اسلامي وه اوهمداوجه وه چې روس به همیشه دحزب اسلامي ته سر تکولو ټول شعارونه دحزب اسلامي پرخلاف وو، که په سنګرونو کې وو، کـه په راډیو یااخبارونو کي ، کـه زموږ دملك داخل اویابهرکمونستي بـلاك کي ، ټولې سرچیني دحزب اسلامي پرخلاف وي ټول تبلیغات دحزب اسلامي پرخلاف وو .

وجه یې داوه چې حزب اسلامي ددي مقاومت ستون فقرات و، ددي مقاومت محورو ، ددي مقاومت آغازګرو، دامقاومت حزب اسلامي پیل کړي و ، په فکري اوعملي لحاظ ،دهمدي لپاره ترټولو سخت ګوزارونه پرحزب اسلامي کیدل ، لوي دشمن به حزب اسلامي ګڼل کیده او شعارونه ، تبصري، تحلیلونه دهغه پرخلاف

وي الحمدلله دالله پاك دپیرزویني اودلطف اوانعام په نتیجه کې حزب اسلامي په دي مقاومت کي لویه ونډه واخیستله ، هغه په دي مقاومت کي صادقانه خپل مسئولیت دالله په وړاندي اداکړي قرباني ورکړي، دحزب اسلامي یونیم لك غړي ددي جهاد په جریان کي په شهادت رسیدلي اتیازره (۸۰) زندانونوته تللي چې په وحشیانه طور په زندانونوکي شکنجه شوي، تعذیب شوي واقعیت دادي چې دجهاد اوهجرت درس زموږ قوم ته حزب اسلامي ورکړي، پس له پیرپیرپیرو دجهاد فریضه دلومړي حل لپاره په دي عصر کي دحزب اسلامي دمجاهدینو په لاس احیاشوي . څوك چې نن له افغانانو نه دجهاد خبره کوي، داسلامي نظام خبره کوي هغه دحزب اسلامي شاګرددي هغه دحزب اسلامي ته زده کړي دادرس ورته حزب اسلامي ورکړي ، اوهغه څوك چې داسلام اوجهاد خبره هم کوي اوددي ترڅنګ څنګ دهغه سره دشمني کوي، دحزب پرخلاف بدار رد اوتبلیغات کوي،هغه داسي وګني لکه یوماشوم ته چې څوك څه پیسي په لاس کې ونیسي اوورته ووایي چې مورواوپلارته بې سپکنځلي وکړه اوهغه بداخلاقه ماشوم هم ددي دوو پیسو په خاطر خپل مور او پلارته سپکنځل کوي .

واقعیت دادي چې حزب اسلامي په جهاد کې زموږ دقوم معلم دي ، زموږ دولس دبابا اودپلارحیثیت لري دجهاد اوهجرت درس هغه ورکړي ، لومړي شهید دحزب اسلامي و ، لومړي مهاجردحزب

> موږ الله خپل ولي اوکارسازګڼو ، جهاد مو دهغه درضا حاصلولوپه خاطر پیل کړي، موږ هرڅه الله ته حواله کړي، دخداي په فیصلو راضي یو. په هرڅه کي خپل خیر لټوو، موږنه پخپلو شرایطو او اسلامي دریځونو ټینګارکوو، باور لرو چې باطل ختمیدونکي دي ، دحق غلبه یقیني ده ، موږ بـه دهر اسلامي حکومت دجوړیدو لپاره خپلي مبارزي ته ادامه ورکوو پرې به نږدو چې څوك په زور اوهغه هم دپردیو په زور په افغانانو حکومت وکړي.

اسلامي و ، لومړي کس چې داسلام لپاره زندان ته تللي دحزب اسلامي غړي و ، دادرس داسلام اودجهاد داسلامي نظام دقایمولو لپاره قربانیو اودشهادتونودرس حزب اسلامي زموږ قوم ته ورکړي .

ورونو ! روسانوپه افغانستان باندي تیري وکړ په دي امید چې هغه به تردوداوبوته ورسیږي ، هغه بـه دخلیج ملکونه اشغال کړي ، پاکستان به دي ونیسي هغه به خپل قلمرو وسیع اوخپورکړي ، ولي دهغه مثال داسي وګڼي لکه یوزړه اوکاواکه ونه چې دخپل عمرپه آخري شیبو کي په آخري کلونوکي نوي ښاخ وکړي،بوي خواته دهغه نوي ښاخ پیداشي ، همدغه ښاخ په مدارمدار ددي باعث شي چې داونه به هم هغه پلو ته نسکوره کړي ، روس همدغسي ګڼل دزوال په حالت کي ، ګومان یې کاوه چې داملك هم ونیسي او له ستراتیژیك لحاظ به یوه حساسه منطقه په دي ساحه کي خپله کړي اوبیا به مزید مخکي تګ هغه ته آسانه وي، دپاکستان او خلیج نیول

هغه ته اسانه برېښي، ولي همدغه لاس اودوول نوي ښاخ ایستل دهغه دزوال باعث شول داکاواکه زړه ونه واپریوتله رانسکوره شوله ، روس په افغانستان کي دماتي اوشکست په وجه له زوال سره مخامخ شو دادالله سنت دي لوي لوي طاقتونه پریږدي چې دخپل قوت او غرور معراج اوآخري حدته ورسیږي اوهم هلته بیا دهغه زوال پیل کیږي، بیا ددغسي مظلوموقومونوپه لاس الله (ج) لوي لوي مغرور طاقتونه ختموي، دادالله سنت دي دروس دختمولوپه خاطر الله افغانان انتخاب کړل اودهغوي پسه لاس یې روس او د هغه وحشي امپراطوري په زوال محکوم کړه . کله چې روسان دافغانستان دکامل اشغال اوپه اوضاع دتسلط نه مأیوس شول ، په دي پوه شول چې وتلونه پرته بله چاره نلري ،افغانستان نه یې دوتلو فیصله وکړه ، واشنګټن داخبره ورسره ومنله چې روسي پوځونه دي دافغانستان نه ووځي او افغانستان دي دروس ترتأثیر لاندي حلقه کي شامل وي .

دلته دي کمونست رژیم پخپل حال پاتي شي ، دنجیب پرحکومت دي اعتراف وکړي، امریکااوغرب دروسي پوځونو په وتلواکتفاً کوي ددي نه مزید له روسانونه څه امتیازنه غواړي، کیداي شي چې دنجیب حکومت پخپل حال پاته وي ،غرب به وړباندي اعتراف وکړي، پاکستان اونورملکونه به هغه په رسمیت وپیژني اودافغانستان مسئله به په دي ترتیب حل شي، وجه یې داوه چې امریکا په کابل کي دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت نشومنلاي هغوي دي ته ترجیح ورکوله چې په کابل کي دي کمونستان مسلط وي هغوي فقط غوښتل چې خپلي ګټي په دي منطقه کي خوندي وساتي دروس دانظامي تحرك دافغانستان اشغال چې دهغه ګټوته کوم خطر پیښ کړي و ددي خطرنه خپلي ګټي په منطقي کي خوندي وساتي ، روسي پوځونه باید دافغانستان نه ووځي، په همدي قانع کیده ، هغوي فیصله وکړله په دي توافق ته ورسیدل چې کمونست رژیم دي پخپل حال کي پاته وي په هغه وخت کي دپاکستان حکومت هم داخبره ومنله دژنیو مذاکرات ترتیب شول، پاکستان په دي مذاکراتوکي شرکت وکړ دکابل له حکومت سره مخامخ کیناستل په معاهدي یې امضا وکړه .

روس اوامریکاپه دي مذاکراتوکي برخه درلوده دپاکستان اوکابل حکومت ،معني واضح وه ، روس اوامریکا توافق کړي و، پاکستان باید دکابل حکومت په رسمیت وپیژني، نجیب حکومت پخپل حال پاتي شي، روسي پوځونه به دافغانستان نه ووځي اوبه دي ترتیب به جهاد پاي ته ورسیږي اودافغانستان مسئله به حل شي، دجونیجوحکومت دامعاهده ومنله ، ضیاء الحق اوپوځ له دي سره مخالفت وکړ، ضیاء الحق دخپل همدي مخالفت قرباني شو، په همدي خاطر هغه ترور شو په قتل ورسیده ، پاکستان کي یوپه بل پسي انفجارات وشول دپنډي لوي سلاح کوټ منفجرشو، نوښارکي یوبل سلاح کوټ منفجر شو هدف داو چې امریکا داغوښتل چې پاکستان دي ته اړکړي چې دمجاهدینوملاتړنه لاس واخلي، نوبه کابل کي دمجاهدینو حکومت دجوړیدو له مفکوري نه منصرف شي اوهغه دنجیب حکومت په کابل کي په رسمیت وپیژني .

بالاخره په دي هم ونشو، جګړي ادامه وکړه روس اوامریکا دوباره خپلو مینځونوکي په دي سلاح شول چې دنجیب حکومت په یوه ائتلافي حکومت بدل کړي، مجاهدین دي له نجیب سره روغه جوړه وکړي، په ګډه به یو مؤقت حکومت جوړکړي ، موږ ددي مخالفت وکړ. خینو ډلو ددي مفکوري سره توافق وکړ، په کابل کي بي دائتلافي حکومت منصوبه جوړه کړه اوبالاخره دمجاهدینو خیني ډلو له کمونستانوسره لاس یوکړ اوپه کابل کي یې یوه ائتلافي اداره جوړه کړه په داسي حال کي چې په کابل کي تسلط دکمونستانو و، پوځ دهغوي و، امنیت دکابل هغوي ساتلي و، لوي لاري دهغوي په کنترول کي وي،لوي ښارونه ټول ددوي سره وو، نظام ټول په کامل طور دکمونستانو په لاس کي و، هغوي پراوضاع باندي مسلط وو، په همدي حالت کي خپـنی داقتدار ووي لارل دکمونستانو تـر سلطي اوسیطري ترسیوري لاندي په حکومت کي شریك شول، موږ چې همیشه خطرګڼل کیدلو جرم موااسلام و، جرم مو داسلامي نظام غوښتل و، دیوآزاد سرلوړي اومستقل اسلامي افغانستان جوړول و، زموږ ګناه همداوه ، زموږ په خلاف جګړه پیل شوه .

هغه بله ورځ دفرانسي داستخباراتو

رئیس دفرانسي رئیس جمهورته په خپل بوریوټ کي لیکي چې باید دمسعود مرسته وشي داځکه چې دهغه په وجه دحکمتیار درادیکالي دلي دبنیاد ګرا، دسخت سري دلي مشر دي، دغه مخنیوي کیداي شي. دادفرانسي داستخباراتو دیوجنرال راپوردي دافغانستان دامورو او دچارو متخصص چې دفرانسي رئیس جمهورته ئې وړاندي کوي باید دمسعود مرسته وشي ځکه په دي مرسته کي موږ کولاي شو دحکمتیار مخنیوي وکړو، امریکاهمدا اعلان کوي، سي آي اي هم داوایي، سي، ان ، آن هم داوایي، چې کابل ته دحکمتیاردحزب اسلامي درسیدو مخنیوي وشي، زموږګناه پرته له دي چې اسلام دي بل څه نه دي، زموږ جرم همدا دي چې یوآزاد، مستقل ، سرلوړي اواسلامي افغانستان غواړو. له موږسره په همدي خاطردښمني کیږي زموږپه خلاف دهمدي لپاره دکمونستانواوتش په نامه دمجاهدینو ګډه جګړه شروع شوي دري کاله زموږ په خلاف جنګ روان و دټولو دتصور پرخلاف دهغوي ګومان داو چې داجګړه . په درې میاشتوکي پاي ته رسوي ، حزب اسلامي به حد اعظم درې میاشتي وتوانیدلاي شي مقاومت وکړي، بالاخره به هغه میدان پریږدي اوائتلافي حکومت به په اوضاع مسلط کیږي ، بیا به دکمونستانو لپاره لاربوځل بیا هواریږي ، دوباره هغوي به اوضاع مسلط کیږي ، دامسلحانه مجاهدین هم چې دهغوي حمایت اوسیوري لاندي کابل ته داخل شوي هغه به دکابل نه بیرته ایستل کیږي.

> دهرواز بهرني مداخلي مخه دي ونیولي شي واچي نن ترستوني دپردیوپه اسارت اوغلامي کي پرانه دي ، په پردیومتکي دي، لاسونه یې پردیوته اوږده دي په لاس اوپښوکي یې دپردیو زنځیرونه اومهاریې دبل په اختیار کي دي، هغه هم ددي خبره کوي چې له بهرنه دي مداخلي بندي شي، که په روس متکي دي ، هغه هم دمداخلي خبره کوي، که په امریکاهم متکي دي هغه هم داوایي . موږ وایو ټول افغانان دي خپل عزت ته خپل ایمان ته دخپل قوم قرباني ته وګوري اوباید دپردیو غلامي ونکړي ، ټول باید لاس یوبل ته ورکړي اودهرواز بهرني مداخلي مخنیوي دي وکړي .

ددوښنبي تجربه به په کابل کي تکراریږي ، لکه په دوښنبه کي چې کمونستان په اوضاع مسلط شول داراز به بوځل بیا په کابل کي هم کمونستان په اوضاع دوباره مسلط کوي . ددي لویو طاقتونو دروس امریکا واشنګټن اومسکومشترکه منصوبه همداوه .

ولي لله الحمد موږددي کاله مسلسل مقاومت وکړنه یواځي موږمقاومت وکړ بلکي ددښمن ټولي توطئي موشنډي کړي داخطرنـاکـه منصوبه زموږ دقرباني اومقاومت په نتیجه کي شنډه شوه کمونستان ونشو توانیدلاي خپله منصوبه عملي کـــړي، روس او امریکاونشو توانیدلي چې خپل پلان په افغانستان کي عملي اوتطبیق کړي، په داسي وخت کي چې نوردکابل رژیــم دپریوتو اونسکوریدو پـه حالت کي و، دمقاومت توان یې له لاسه ورکـــړي و، حساس ځایونه ورنه نیول شوي وو، ورځ په ورځ ئې عقب نشیني کولي، په شمال کي هم دهغوي پرخلاف قیامونه شروع شول ، په شکردري اوپروان کي هم جګړي شروع شوي ، دهغوي خپل قوماندانان دهغوي په خلاف راپورته شول ، اوهغوي موږته یوپه بل پسي هیئاتونه رالیږل او ویل ئې چې نورخبره خلاصه ده،

په قرآن لاس ږدو چې استعفانه تیاریو، یومؤقت حکومت دي، په خبرواتروکي صادق اومخلص یو، په جلال آباد کي مذاکرات شروع شول،په یوموقت حکومت توافق وشو، باید نن سبا داحکومت اعلان شوي واي ، په همدغسي حالت کي چې بیا به کابل دحزب اسلامي په لاس کي پریوتو، اوبیا به دمذاکري په نتیجه کي بحران پاي ته رسیدو،په همدغه حالت کي هغه قوتونه چې نه غواړي په افغانستان کي دي امن راشي، نه غواړي دافغانستان بحران دي حل شي نه غواړي چې دمجاهدینوپه لاس ،کابل کي یواسلامي حکومت جوړشي هغوي بوځل بیا وخوځیدل ، دپردي شاته ، موږ هم دي ته منتظرو چې بیا څه فتنه راولاړیږي ، چې کله دکابل دفتحي ورځ اوشیبه رانژدي شوي ، دبحران دحل کیدو دختمیدو لحظي رانژدي شوي ، خلك خوشحالي کوي اوموږ پریشانه یو چې بیابه داسلام دښمنان موږ ته له کومي لاري ، په څه نامه ترکومي پردي لاندي بیرله فتنه راولاړوي .

ورونوا لـه هغي ورځي چې موږ مجبورشو د کابـــل شاوخوانه خپل قوتونه سروبي ته را انتقال کړو جګړه دطالبانواودکابل حکومت ترمنځ پیل شوه ، ددیرو کوششونو سره ســره مخصوصاً دبهرنیوقوتونواوځواکونو په واسطه چې غوښتل یې دطالبانو اوکابل اداري ترمنځ جګړه ونشي اوداجګړه دي صرف دحزب

اسلامي پرخلاف توجیه شي بالاخره دائتلافي اداري اودطالبانوترمنځه جګړه پیل شوه موږ څه موده انتظار وکړ، دطالبانو دمخکي تګ هغه جریان متوقف شو بهرنۍ ودریده ، اوشاته تګ ئې پیل شو، چهارآسیاب ورنه ونیول شومیدان کي یې شکست وخوړلو ، قراء اونیمروز نه ووتل اووضعیت داسي شو، په ټولو هغه ولایتونو کي چې دطالبانو په لاس پریوتي وو دهغوي پرخلاف بغاوتونه تنظیم شول، دطالبانووضعیت سخت پریشان شو داټول ولایتونه یوپه بل پسي دکابل دائتلافي اداري په نفع دطالبانو له کنترول نه په وتروو . څو موږ دانه غوښتل صریح یوایو او تاریخ به وروسته قضاوت کوي، موږ دطالبانو مرسته وکړه له هم هغه ورځي نه چې زموږ اودهغوي ترمنځ جګړه متوقف شوه موږ دهغوي پرخلاف تبلیغات بند کړل، چې ددي له قراء اونیمروز نه ووتل، موږ مجبورشــو چې په شمال کي خپل نظامي تحرکات پیل کړو، ددي لپاره چې دکابل ائتلافي اداره هلته مصروفه کړو

اوبري نژدوچي هغه په ټول قوت اوتوان سره پرطالبانوباندي خپل بریدونه جاري وساتي .

سره له دي چې په سالنګ ، بامیان، بادغیس ،سمنګان سرویي، اوځاځیوکي جګړه پیل شوي ، خوله هغي سره سره دطالبانو وضعیت ډیرپریشان وو، نژدي وو چې هغوي کندهارنه هم خپل باراوبستري وتړي ، ګرشك نه هغوي ووتل، اوس منتظر دي پـه قندهار د وروستي حملي لپاره ، پـه دي وخت کي هم شوراي هم آهنګي دهغوي مرسته وکړه داسماعیل خان اول خط بیارد شو، شندند اوهرات بیاردشول، دبادغیس لخوانه تحرکات تونډ شول، بادغیس ونیولي شو موږ خپلو قوماندانانوته وویل پسه هرقیمت چې کیداي شي د طالبانو مرسته وکړي، ددي په نتیجه کي اسماعیل خان په شاوتمبیده ،هرات فتح شو بالاخره زموږ اودطالبانو ترمنځ مذاکرات په رسمي شکل پیل شول .

دهیئاتونو په ذریعه ، موږ غوښتل چې شوراي هم آهنګي او طالبان په یوجامع ،معقول حل په خپلو مینځونو کي توافق وکړي، که داداره قوتونه سره متحدشي د افغانستان بحران ختمیږي ، جګړه پاي ته رسیږي صادقانه اومخلصانه طور موږ په مذاکراتو کي برخه واخیسته ، غوښتل موتنازل هم وکړو، ایثار هم وکړو، دلته امتیازات هم ورکړو، ترڅو دبحران دحل کولو لپاره یوحل ته ورسیږو، همداسي وشول، موږ په یوحل توافق وکړ، مؤقت حکومت جوړشو، وزارتونه اوپوستونه تقسیم شول اوټول اختلافي نکات هم رفع شول معاهده ولیکله شوه ، دطالبانو دهیئات داصراراو ټینګار په وجه په دي معاهده کي امضا وشوه، ولي متأسفانه کومه ورځ چې دطالبانو دهیئات داصرار اوټینګار په وجه دالبکلي معاهده دخپلو ټولو شروطوسره امضا شوه ، سبادبي بي سي له لاري نه اوروچي دهغوي درجه یك مسئولین اعلان کوي چې موږ نه کله چاسره مذاکره کړي اونه دچاسره معاهده لرو ، چاتصور نه کولو څوك چې داســلام خبره کوي ، دشرعي نظام دقایمولو خبره کوي، هغه دي پخپل تعامل کي په دي شکل عمل وکړي، مذاکري ته ناست معاهده امضا کوي، خوله هغه به پس درادبو له لاري نه اعلان کوي موږنه له چاسره مذاکره لرو اونه معاهده ، اسلام موږته وایي چې خپله ژبه کنترول کړي اویه همدي ژبه انسان هم دوزخ ته ځي اوهم جنت ته . دي سره هم سري مسلمان کیږي اوهم کافرکیږي ، اوددوزخ اکثر اوسیدونکي هغه دي چې دخپلي ژبي په ګناه نیول شوي دي .

موږ نـه غو اسـلام وایي چې دروغ

اوایمان سره نه یو ځاي کیږي موږ ته اسلام وایي (لا دین لمن عهدله) څوك چې پخپلوژمنو اوتعهدو نه ودریږي دین نلري ، موږ خودطالبانو تحریك نه همداتوقع وه چې داسي ونکړي .

له هغي ورځي نه بعد چې دامذاکرات تکذیب او تردید شول موږ بیاهم کوشش کړي چې حتماً ددې ائتلافي اداري دټولو مخالفینوترمنځ دي یوقوي، منظمه اودوامداره ، سیاسي اوعسکري جبهه جوړه شي، موږ په ټول صداقت اواخلاص سره ددغسي جبهي دجوړولو لپاره هڅه کړي طالبانوسره مو هم ډیري مرستي کړي ، کم له کمه زه دومره ورته ویلي شم چې موږ دهغوي پرخلاف تبلیغات ونکړل، دهغوي پرخلاف مولوي مسعود سره ملګرتیاونکړه چې سخت ضعیف وه اوتقریبي دټولیدو په حالت کي و که موږ دمسعود ملاتړکړي واي، ډیره ګرانه وه طالبانوته چې هغه دي له هغه وضعیت څخه ځان سالم اوروغ رمټ وباسي ، طالبان هلمندته راورسیدل، په کابل کي ئې ماته وخوړله ، په شمال کي دهغوي په ګډه جګړه شروع شوه ، موږ دهغوي مرسته کړي ، له هغوي سره مودوستي کړي، دهغوي ددښمنانو سره مو کم له کمه ملګرتیانه ده کړي ددوي لپاره نه ،دخپل قوم لپاره ،دخپل ملك دژغورني لپاره ، په دي خاطرچي داجګړه په پاي ته ورسیږي په ملك کي به سوله اوامنیت راشي او داسلامي نظام دقایولو لپاره به لاره هواره شي، موږ دخداي لپاره داسلام په خاطردخپل مظلوم قوم لپاره داکارکړي ، موږ له هرچا ســره دخپل مظلوم قوم دژغورني لپاره خبرو اترو ته تیاریو، یوقوي مرکزي، منتخب اسلامي حکومت جوړولو لپاره هرچاسره تعاون ته چمتویو، ددي لپاره چې د افغانستان په داخلي امـورو کي بهرني خودغرضه ځواکونه مداخلت ونکـړي، موږ، ددغه مداخلومخنیوي لپاره اقدام ته ، ګټمړیك مساعي تـه چمتو یـو، آزاد سرلوړي اواسلامي افغانستان دجوړولو لپاره موږ دحزب اسلامي مجاهدین هر راز قرباني تـــه دسابق په شان دټول لپاره چمتویو موږ څو شرطونه لرو، لومړي داچي دټولو طرفونو ترمنځ دي صادقانه اومخلصانه مذاکرات پیل شي، ددغه مذاکراتوپه نتیجه کي دي یومؤقت حکومت جوړشي، داسي چې ټولوته دمنلو وړوي نه دیوحزب حکومت وي، نه دیو قوم اوقبیلي حکومت وي نه دیوسمت حکومـــت وي، دا مؤقت حکومت دمذاکراتو اوتفاهم لـه لاري جوړشي او قدرت دي هغه ته انتقال شي بیا چې کله په افغانستان کي جګړه پاي ته ورسیده ، سوله تأمین شوه اودامؤقت حکومت په اوضاع مسلط شو ،ثبات اواستقرار ملك کي تأمین شو، دانتخاباتولپاره شرایط برابرشول بیا دي افغان قوم ته ددي موقع ورکړ شي چې خپل سرنوشت پخپله وټاکي هغه دي دخپلي خوښي حکومت جوړکړي، چې په چاپي اعتمادوکړ هغه ته دي رایي ورکړي ، هغه دي دزعیم اومشر په توګه وټاکي او انتخابات دي ترسره شي، زموږ دوهمه مطالبه داده چې دسولي اوامن دتأمین نه پس دي په افغانستان کي انتخابات تر ســـره شي اسلامي انتخابات، داسلام سره سم انتخابات اوهغه چاته دي قدرت وسپارلي شي چې دملت اکثریت ورباندي اعتماد کوي، په دي سره موږ غواړو چې دجګړي مخنیوي وشي ددي نه بعد دي پـه افغانستان کي کــودتــاګانې ونشـي ، موږ نه دي حکومتونه امریکا اوروس جوړنکړي دپردیو په زور دي څوك په افغانانوباندي حکومت ونکړي ، کـــه حکومت جوړیږي ملت دي خپله دسولي په فضا کي جوړکړي، داسلامي آزاد اومطلق انتخاباتوپه نتیجه کي دي امیرونټاکل شي ، بیا دي ټول افغانان لاس یوبل ورکړي ، دهرواز بهرني مداخلي مخنیوي دي ونیولي شي داچي نن ترستوني دپردیو اسارت او غــلامي کي پرانه دي ، پردیومتکي دي، لاسونه یې پردیوته اوږده دي په لاس اوپښوکي یې دپردو زنځیرونه اومهاریې دبل په اختیار کي دي، هغه هم ددي خبره کوي چې له بهر دي مداخلي بندي شي، که په روس متکي دي ، هغه هم دمداخلي خبره کوي، که امریکاهم متکي دي هغه هم داوایي موږ وایو ټول افغانان دي خپل عزت خپل ایمان ته دخپل قوم قرباني ته وګوري اوباید دپردیو غلامي ونکړي . ټول به لاس یوبل ته ورکړي اودهرواز بهرني مداخلي مخنیوي دي وکړي .

زموږ بل شرط دادي چې باید په بیت المال کي خاینانه تصرف ونشي داسي چې څوك واکدارشو، بیا دملك اودوا هرڅه دخان وګڼي، خلك ورته رشوه ورکوي، رئیس جمهورخلکوته رشوه ورکوي دافغان ولس په بیت المال باند جګړي پیل کوي، دجګړواور بلوي، افغا

(۲) مخ

نهضت شهادت سلسله ... (تعلیقی سرلیک، په ښه توګه نه لوستل کېږي)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۱۰۵۹) سال هژدهم یکشنبه (۲٤) جدی ۱۳۷٤

قیمت (۳۰۰) افغانی ، (۳) روپیه

احکام دین خودرا بیاموزیم

احکام غسل

غسل براي سه منظور صورت مي گيرد :
۱- به جهت پاك شدن ازحدث اكبر ، اين غسل فرض است .
۲- به نيت اجروثواب - اين غسل سنت ويامستحب است .
۳- به منظور پاك كردن بدن ازگردوخاك ويابراي رفع شدت گرما اين غسل مباح است .

موارد فرض گرديدن غسل :
درموورد آتي غسل فرض مي گردد :
۱- خارج شدن مني همراه باشهوت ۲ - جماع ۳ - حيض ٤ - نفاس .

نبوي لارښوونې

له حضرت اوس بن اوس (رض) نه روايت دي چي حضور(ص) فرمايلي دي : دتاسو په ورځوكي ټولونه بهتره دجمعي ورځ ده . نوپدي كي په ماباندي ډيرډير درود ووايي ځكه چي ستاسي درود ماته وارسيږي . اصحابوعرض وكړ يارسول الله ! زمور درود به څنگه تاسوته درسيږي چي ستاسي به هډوكي هم وراسته شوي وي . حضور(ص) وفرمايل : الله تعالي دپيغمبرانو بدن په ځمكه حرام كړي دي يعني دپيغمبرانو بدن په ځمكه كي سالم پروت وي . ځكه څه نقصان نشي ورسولي ، ورستيږي نه .
(امام ابوداود)

دننگرهار پوهنتون دښووني او روزني پوهنځي ته دبريالي شويو محصلينو لست

شماره	نوم	دپلارنوم	ولايت	ليسه	نمري
۱	بريالي	عبدالطلب	ننگرهار	وزير	۱۳۵
۲	محمدامين	الله مير	كندز	ننگرهار	۱۳٤
۳	عزيزالدين	شهاب الدين	ننگرهار	اتحاد	۱۳۲
٤	توريالي	غلام سخي	وردك	شهيد روزونكي	۱۲۹
٥	بشيراحمد	شيراكبر	ننگرهار	ملكيارهوتك	۱۲٦
٦	عزت الله	عبدالهادي	لغمان	ننگرهار	۱۲٤
۷	نورمحمد	محمداگل	ننگرهار	اتحاد	۱۲۳
۸	محمد سرور	دوست محمد	لوگر	التقوا	۱۲۳
۹	نديم الله	مضيع الله	ننگرهار	ننگرهار	۱۲۳
۱۰	محمد قسيم	محمد طاهر	ننگرهار	ننگرهار	۱۲۳
۱۱	جميل	رحيم الله	رر	مرادعلي	۱۲۱
۱۲	محمدياقوت	حيات خان	وردك	عمرفاروق	۱۲۱
۱۳	اسدالله	دوست محمد	ننگرهار	ننگرهار	۱۲۱
۱٤	نعمت الله	حاجي محمد	رر	چپرهار	۱۲۰
۱٥	غازي خان	غلام فاروق	لغمان	محمدحسين	۱۲۰
۱٦	محمدشهير	محمدنسيم	ننگرهار	اي ، آر ، سي	۱۱۹
۱۷	محمدانور	عبدالغفار	وردك	عمرفاروق	۱۱۹
۱۸	محمد طاووس	سعدالدين	وردك	عمرفاروق	۱۱۹
۱۹	رحمت الله	سيد عثمان	ننگرهار	ننگرهار	۱۱۹
۲۰	گل محمد	افريدي	رر	رحمن بابا	۱۱۹
۲۱	شهزاده	محمدحبيب	كنر	محمديه	۱۱۷
۲۲	محمدسليمان	سلطان	پكتيا	اتحاد	۱۱۷
۲۳	محمد مير	محمداجان	لغمان	كميشتري	۱۱۷
۲٤	محمد گل	افريدي	ننگرهار	التقوا	۱۱۷
۲٥	روزي خان	يارمحمد	لوگر	رحمن بابا	۱۱۷
۲٦	محمد صديق	محمد جان	ننگرهار	ننگرهار	۱۱۷
۲۷	منور	خيال محمد	وردك	شهيد كمال	۱۱۷
۲۸	عنايت الله	حاجي گل مختار	ننگرهار	كميشتري	۱۱۷
۲۹	محمد لطيف	سيد [illegible]	رر	ملكيارهوتك	۱۱۷
۳۰	حسن خان	الف خان	لوگر	عمرثاني	۱۱۷
۳۱	احمد ظاهر	عبدالواسع	ننگرهار	ننگرهار	۱۱۷
۳۲	احمد جان	نورالرحمن	ننگرهار	اتحاد	۱۱٦
۳۳	خورشيد	شيرمحمد	لغمان	اتحاد	۱۱٦
۳٤	غلام رحمن	محمدرحمن	ننگرهار	كميشتري	۱۱٦
۳٥	ميرويس	محمدسرور	رر	صديق اكبر	۱۱٦
۳٦	عبدالبصير	غلام دستگير	رر	ننگرهار	۱۱٦
۳۷	ثناء الحق	نورالحق	رر	ملكيارهوتك	۱۱٥
۳۸	سيدالطيف	سيدامير	رر	ننگرهار	۱۱٥
۳۹	محمد قاسم	محمدشاه	رر	سكندري	۱۱٤
٤۰	گل احمد شاه	سلطانشاه	خوست	الفتح	۱۱٥
٤۱	داد محمد	عبدالخالق	ننگرهار	ننگرهار	۱۱٥
٤۲	محب الله	گل عليم	ننگرهار	اتحاد	۱۱٥
٤۳	شريف الله	احمدجان	رر	سيد نورمحمد شاه	۱۱٥
٤٤	مالبار	رحمت الله	ننگرهار	التقواء	۱۱٥
٤٥	غلام محمد	غلام سرور	وردك	عمر فاروق	۱۱٥
٤٦	جمال بريالي	محمدغلال	ننگرهار	طب متوسطه	۱۱٥
٤۷	خاني ملاء	بهلول	ننگرهار	اتحاد	۱۱۳
٤۸	شمالي گل	زيرگل	رر	ميخانيك خوست	۹٦
٤۹	سيد عبدالله	سيدزيورشاه	لغمان	التقوا	۱۱۷
٥۰	زمين گل	ملاء خيل	لوگر	صديق اكبر	۱۱٦
٥۱	محمدجميل	عبدالجليل	وردك	سيدآباد	۱۱٦
٥۲	صلاح الدين	جلال الدين	كنړ	حربي ښوونځي	۱۱٥
٥۳	عبدالوهاب	سيد جان	وردك	سيدآباد	۱۱٥
٥٤	نورالحق	مقادخان	كنړ	محمديه	۱۱٥
٥٥	نصرت الله	شيرآقا	لغمان	ابن سينا	۱۱٤
٥٦	محمد شريف	عمراخان	كابل	حضرت بلال	۱۱٤
٥۷	پښتون ولي	شاه محمد	ننگرهار	چپرهار	۱۱٤
٥۸	محمد اسحق	منورخان	كنړ	محمديه	۱۱٤
٥۹	جارالله	ذكاءالله	ننگرهار	اتحاد	۱۱٤
٦۰	احمدجان	مهمند	وردك	سيدآباد	۱۱٤
٦۱	فريد الله	حيات الله	ننگرهار	اتحاد	۱۱٤
٦۲	عارف خان	تاج محمد	ننگرهار	كالج پشاور	۱۱٤
٦۳	محمد نواب	محمدشاه	ننگرهار	ننگرهار	۱۱۳
٦٤	عبدالجميل	عبدالاحد	رر	امرخيل	۱۱۳
٦٥	محمد انور	عبدالغفار	وردك	عمرفاروق	۱۱۳
٦٦	عبدالمالك	عزيزخان	لوگر	ننگرهار	۱۱۲
٦۷	محمد نسيم	ځوبني خان	وردك	ابوحنيفه	۱۱۱
٦۸	محمد نادر	محمد رستم	ننگرهار	ننگرهار	۱۱۱
٦۹	عبدالطيف	محمد يوسف	كنړ	محمديه	۱۱۰
۷۰	شمشير	بابا جان	لغمان	شيخ محمد حسين	۱۱۰
۷۱	حبيب الرحمن	شيررحمن	ننگرهار	التقوا	۱۱۰
۷۲	عبدالظاهر	محمد اسرائيل	لغمان	امرخيل	۱۱۰
۷۳	عابدالله	محمد	ننگرهار	سيلبه	۱۱۰
۷٤	احمدفواد	اخترمحمد	ننگرهار	ننگرهار	۱۱۰

قوماندان

تشريفاتي مافوق قوماندانان قواي ثلاثه مسلح يعني قواي زميني، هوايي وبحري بشمارميرود .
ولي ازلحاظ نيرومندي، قوماندان قواي زميني فرد شماره يك كشور بشمارميرود كه درواقع داراي اختيارات غير رسمي مافوق رئيس دولت ورئيس حكومت ميباشد .
درپاكستان قوماندان قواي زميني يعني جنرال كرامت، رئيس حكومت يعني ميرمن بي نظيربوتو ورئيس دولت يعني سردارفاروق احمدخان لغاري اضلاع «مثلث حاكم» راتشكيل ميدهند.
جنرال كرامت بتاريخ هجدهم ماه دسمبرسال ۱۹۹٥ ميلادي به اين پست منصوب گرديد.
مطابق قانون اساسي پاكستان «رئيس جمهورازميان لست اسامي پيشنهادي امراء قواي مسلح «فردي رابعنوان قوماندان قواي زميني منصوب ميكند .
جنرال عبدالوحيد در۲۱ جدي سال ۱۳۷۲ جانشين جنرال محمد آصف نوازجنجوعه گرديد كه دراثريك حمله قلبي درگذشته بود .

احمدشاه مسعود از مولوي خالص خواستار ميانجيگري ميان اداره كابل وطالبان شد

كابل - ۲۳ جدي :
احمدشاه مسعود قوماندان اداره كابل ازمولوي محمديونس خالص تقاضا نموده است ميان اداره كابل وگروه طالبان ميانجيگري كند .
براساس گزارش مطبوعات پاكستان اين درحاليست كه اداره كابل هيئاتي راتحت سرپرستي منشي عبدالمجيد تعيين نموده كه جهت مذاكره با گروه طالبان به قندهاربرود چندي قبل هيئات ايراني وارد قندهارشدودرهمين راستابا سران طالبان به گفتگو پرداخت . بعداز پايان سفرهيئات ايراني به قندهار سخنگوي طالبان درباره نتايج اين ديدار گفت كه جانب ايران ميكوشد اداره كابل درقدرت باقي بماند . گرچه ازطريق رسانه هاي خبري شنيده نشده كه هيئاتي ازجانب طالبان وارد ايران ميگردد اما باتوجه به درگيري هاي تازه درسرحدات ولايت نيمروز وهمچنان دراسلام قلعه احتمال تحقق اين امردرشرايط كنوني خيلي ضعيف بنظرميرسد زيرا درحوادث سرحدات افغانستان باايران گروه طالبان دست ايران رادخيل ميداند .
احمدشاه مسعود درين پيام خود به مولوي خالص ياد آورشده كه طرح هاي صلح اداره كابل موفقيت آميزبوده است . چندي قبل استاد رباني اعلام داشت به مراكزگروه هاي مخالف سفرمي كندوپيرامون حل بحران كشور باآنهابه مذاكره مي نشيند ومخالفان وي رابه عنوان رئيس جمهور نپذيرفتند وتاكنون باهيچ جناحي شخصاً مذاكره نكرده است .
ازجانب ديگر محمود مستيري روزجمعه وارد اسلام آبادشده ماموريت صلح جويانه اش را ازسرميگيرد . وي كه گفته ميشود دردور جديد ماموريتش ازحمايت بيشتر سازمان ملل وكشورهاي منطقه برخوردار است بعداز ديداربامقامات پاكستاني وسران گروه هاي افغان درپاكستان وارد افغانستان مي شود .

راكت باران برشهركابل (٤) كشته وزخمي برجاي گذاشت

كابل - ۲۳ جدي :
شهركابل باردېگر مورد حملات راكتي قرارگرفت و٤ تن كشته ومجروح برجاي گذاشت .
مطابق گزارش هاي رسيده ازكابل بيست راكت درجريان شب وروزگذشته به شهركابل پرتاب شده ومناطق مكروريان وشش درك هدف اصلي پرتاب اين موشك هابوده كه درنتيجه دوتن از شهريان كابل كشته ودوتن ديگرزخمي گرديدند.
گزارش مي افزايد كه دراثر اين حمله موشكي دوباب منزل نيز منهدم گرديده است . اداره كابل مسئوليت اين حملات رابه گروه طالبان نسبت داده است .
همچنان طيارات جت جنگنده اداره كابل درتلافي به حملات موشكي طالبان ،مراضع طالبان در ريشخور ، چهارآسياب، وتپه هاي خيرآباد را مورد بمباران قراردادند .
منابع اداره كابل ادعاكرده اندكه آنها يك حمله تعرضي طالبان را قبل ازاينكه آغازيابد بابراه انداختن يك عمليات ضدحمله دفع و نيروهاي طالبان را واداربه عقب نشيني به خطوط سابقه نيرد نموده اند . درگزارش گفته شده تبادله آتش درمناطق چهلستون نسبت به سايرخطوط مقدم جبهه شدت بيشترداشت . اما ازميزان تلفات وخسارات وارده معلوماتي دردست نيست ونه هم منابع آزادومستقل آنراتائيد كرده است .

تراوسه پوري سل تنه يرغمليان د داغستان په پولوكي دچيچن دمبارزينو په ولكه كي دي

. مبارزينو ټولو ښځينه يرغمليانو ته دتلو اجازه وركړې ده

داغستان - دمرغومي ۲۳ مه :
دداغستان دجمهوريت پرلوته ځيرمه دچيچن په ازادي غوښتونكو مبارزينو روسي عسكرودمحاصري سيمه تنگه كړي ده .
دنړيوالو خبرځايونوپه حواله ويل كيږي چي : دروس يرغلگرو عسكرودداغستان دجمهوريت په پولوكي هغه كلي محاصره كړي دي، په كوم كي چي دچيچن ازادي غوښتونكي مبارزين او (۱۰۰) تنه روسي يرغمليان ځاي پرځاي شوي دي .
دچيچن مبارزينوپه دي وروستيو كي دغه يرغمليان دداغستان دجمهوريت په يوه روغتون باندي ترحملي وروسته يرغمل نيولي دي اوديرغمليانودخوشي كيدوپه بدل كي ئي دچيچن جمهوريت ته ئي دپرامنه تيريدو غوښتنه كړي ده اوويلي يې دي چي چيچن ته په رسيدوسره به يرغمليان خوشي كړي .
په داسي حال كي چي دروس ديرغلگرپوځ توپ لرونكي هليكوپترونه په سيمه بريريل پسي الوتني كوي اوروسي عسكروهم دغه سيمه كلابندي كړي ده ، دچيچن مبارزينو پرون اعلان كړي دي چي ټول ښځينه يرغمليان به خوشي كړي اوهغوي ته ئي دتلو اجازه وركړي ده .
خوپرغملوپخودتگ څخه انكاركړي دي اوويلي دي چي : ترهغي پوري دهغوي ميرونه پرينښودل شي دوي به يوازي لاړي نه شي .

دكندزپه ولايت كي دكابل اداري دقوماندانانو ترمنځ سخته جگړه وشوه

كندز - دمرغومي ۲۳ مه :
دكندز په ولايت كي دكابل اداري دقوماندانانوترمينځ نښتي رواني دي .
دكندزله ولايت څخه دحزب اسلامي يوي خبري منبع دمخابروي تماس په ترڅ كي شهادت ته وويل : دكندزپه ولايت كي دكابل اداري دپلوي قوماندانانو دمخكښيو اختلافاتو اوجگړو په دوام دتيري او ئي په اوږدوكي دكندزدولايت دامام صاحب دولسوالي دآق مسجد په سيمه كي دالحاد دقوماندان شيرمحمدولنگ» اودنظارشورا دقوماندان عبدالجبار «صافي» ترمينځ سخته جگړه روانه وه .
خبرورکوونکي چي : دغه جگړه چي دري ورځي ئي دوام درلود دواړو جگړه مارو خواوېودېل پرضد دسپكواودرنډو وسلو داستعمال نه كارواخيست چي په نتيجه كي ئي دېښكيلواړخونوځوانه (۷) تنه مړه اوگڼ شميرنورټپيان شوي دي .
كه څه هم په دغه سيمه كي دالحاد اونظارشورا دقوماندانانو ترمينځ دري ورځني سخته جگړه اوس سره شوي ده خوپه نورو سيمو كي دداړوجگړه ماروډلوداقرادو ترمينځ تيښي نښتي رواني دي .

دالتقوا ليسي دزده كوونكو دحوزي انتخابات وشول

پيښور - دمرغومي ۲۳ مه :
دالتقوا دليسي دتعليمي اوتربيوي حوزي ترسرپرستي لاندي انتخاباتي غونډه وشوه .
دپيښور دبارځغه دشهادت خبريال خبراكوي چي : په دي وروستيو ورځوكي دالتقوا دليسي په انكړكي دنوموړي ليسي داستادانو اوشاگردانوپه گډون يوه غونډه وشوه .
دغه غونډه چي دقرآن عظيم الشان دځومباركو اياتونو په تلاوت سره پيل شوه . وروسته دالتقواليسي استاد حبيب الله «راحل » اوږدي خبري وكړي اودغونډي برخه وال ئي خپلو مسئوليتونوته متوجه كړل او زده كوونكو ته ئي دهروول مرستوژمنه وكړه . دغونډي په پاي كي دنوموړي ليسي د زده كوونكو د حوزي انتخابات ترسره شول چي دغونډي دگډون كوونكو دراېو په اكثريت محمدآصف صافي دناظم په توگه ، حبيب الله «حبيبي »، خورشيداحمد «قاري زاده »، اوعمرشاه «مومند» دمرستيالانوپه توگه ټاكل شوي دي .

سهم رباني رادر

به ساختار حكومت موقت آينده اظهارداشت كه جايگاه رباني درحكومت آينده مي شود حذف گردد امادرمورد شموليت مسعود درحكومت عبوري آينده كدام مشكلي وجودندارد .
وي درتلاش كشورهاي منطقه ياد آوري نموده گفت : كشورهاي منطقه متهم كردن يكديگررا كناربگذارند وبراي استقرار صلح تلاش كنند .. نماينده سازمان ملل افزود : ايران از كشورهاي همسايه افغانستان است كه براي صلح تلاش مي نمايد . وي دراخيرگفت صلح به نفع همه بوده بخصوص براي افغانها وهمچنان براي قدرت هاي منطقه .

جگړه يو فشار

خبرياتوي چي : دننگرهار دپوهنتون داستادانو دسرلي دغه هيئات څوورځي وړاندي په جلال آباد كي دحزب اسلامي له امير ورور حكمتيار اودالحاد دمشر استاد سياف سره هم په دي اړوند جلا، جلا كتني كړي وي .
دپوهنتون داستادانوسره دمولوي صاحب خالص دليدني په وخت كي دننگرهاردكانال رئيس اودننگرهاردولايت دجهادي شورا غړي ډاكټرمحمدآصف هم حاضر ؤ .

مسعود، مولوی «محمدی» او

خبريال زياتوي چي په دي لركي مولوي محمدي ملگرودطالبانو اواسلام آباد نظرغوښتي و ، چي ددواړوله لوري شين چراغ وركړل شوي و . خبريال ليكي چي كله استادسياف دموضوع له پرمختگ نه داحمدشاه «مسعود » دخبرولولپاره دخپل هيئات غړي «صديق چكري» اوودانش يار» كابل ته وليږل، نومسعود خراب اوعكس العمل په څرگندوټكيوكي منفي واودهيئات غړيوته ئي وويل چي مولوي محمدئبي «محمدي» يامولوي محمديونس «خالص » ته داقتدارسپارل ،اصلاً طالبانوته دواك دسپارلوپه معني دي اودي ورسره په هيڅ صورت كي موافقه نشي كولاي .
دياددوني وړده چي په تيرپسرلي كي هم يوواري په جلال آباد كي داستاد سياف له خوا داطرحه وړاندي شوه چي واك دي مولوي خالص ته وسپارل شي ، له دي طرحي سره حزب هم موافقه وكړه خوچي كله خبره كابل ته ولاړه مسعود په شدت سره ردكړه .
خبريال دهمدي منبع په حواله زياتوي چي دكابل اداري مهمي حلقي په جلال آباد كي استادسياف دڅرگندونو او هڅو پته دكابل اداري رسمي دريځ نه بلكي دنوموړي شخصي ميلان اودلچسپي بولي .
منبع وائي چي داسي ډيرزيات شواهد ليدل شوي چي مبني استاد سياف دمسعود دټولو مهموچارو اوتصميمونو په جريان كي نه دي .
ددي ترڅنگ داهم ويل كيږي چي استاد سياف په خصوصي مجلسونوكي دمسعود اواستاد رباني نه شكايت كړي اوڅووريځي دمخه ئي په يوه غونډه كي څرگنده كړي چي «مسعود اورباني» ترما (سياف) شل ځله ودوستم » ته زيات اهميت وركوي .
له بل لوري يوبلي معتبري منبع شهادت ته ويلي چي اسلام آباد يوځل بيا دكابل اداري دمخالفينو ترمنځ دتفاهم عمليه شروع كړي اوغواړي دخبرواترو حلقي ته پراخټيا وركړي، اوتورتنظيمونه هم پكي ورگډ كړي .

دجلال آباد په ښاركي داوړو له منډيي څخه غلو(٤٣۰) لكه افغاني (۲٥۰۰۰۰)كلداري غلاكړي

جلال آباد - دمرغومي ۲۳ مه :
دجلال آباد په ښاركي داوړو يوه منډيي غلووهله . دجلال آباد له ښارڅخه دشهادت خبريال د مخابروي تماس په ترڅ كي وويل چي : ورمه شپه دجلال آباد په ښاركي د عبدالقادرخان داوړو په منډيي كي ددريو تجاراتونمايندو گي اودوگانونه دنامعلومو غلو لخوا وهل شول .
خبرياتوي چي : دغلو ولي په نوموړي منډيي كي دجان آغا ، صيقور اوغلام گل له دوكانونوڅخه غلوسره ديرش لكه افغاني او (۲٥۰۰۰۰) كلداري غلاكړي دي.

د دره صوف په ولسوالي كي دشرې تاروغي له كبله : په لسگونو ماشومان مړه شوي دي

سمنگان - دمرغومي ۲۳ مه :
دسمنگانوپه ولايت كي دشري (سرخكان) ناروغي گډه ده اوپه لسگونو ماشومان ئي وژلي دي.
دتهران راديو په قول ويل كيږي چي : دسمنگانو دولايت ددره صوف په ولسوالي كي دشري ناروغي گډه ده اوپه نوموړي ولسوالي كي دشري دناروغي دضد درملونشتوالي له كبله ددره صوف په ولسوالي كي په لسگونو ماشومان مړه شوي دي .
په خبركي زياته شوي ده چي : كه چيري په نژدي ورځوكي دسمنگانوولايت په تيره بيادده صوف ولسوالي ته داروودرمل ونه رسول شي په دغه ولسوالي كي ددېرو نورو ماشومانو ژوند دمرگ دخطرسره مخامخ دي اوددي ويره شته دي چي په نوموړي ولايت كي به گڼ شميرماشومان ددغي ساري ناروغي په وجه خپل ژوند له لاسه وركړي .

اسلام آباد طرح مسعودرا قدمي به

را منجمد سازد كه اين كاربه نفع اداره محاصره شده كابل است . بنابرين به ترديد اين طرح دور از انتظار نبود .
روزنامه مينويسد طرح احمدشاه مسعود زماني اعلام شدكه قبل از آن هيئات ايراني بخاطر حل بحران افغانستان فعال ودرجستجوي راه حل معضله از طريق تفاهم ميان رهبران گروه هاي افغان شده است . ازنشانه هاي بارز اين مساعي ديدار علاء الدين بروجردي معاون وزارت خارجه ايران باطالبان در قندهاربود واكنون طالبان به تعقيب نمودن پروسه مذاكرات ومسافرت به تهران ترغيب مي شوند . اين انكشافات باديدار غيرمترقبه دوكتوروولايتي وزيرخارجه ايران باسران پاكستان دراسلام آباد تعقيب شد.
نتايج سفروي هنوز معلوم نيست اما ظاهراً تلاشي بخاطرايجاد توافق نظرميان دوكتوروولايتي درقبال مسايل افغانستان بوده است .
وزارت خارجه پاكستان وجود اختلاف نظر راپذيرفته ميگويد : نوعي اختلاف سليقوي وجودداشته كه در صحنه عملي احساس نمي شود. درمذاكرات بصورت كلي ، اين مطلب مشهود است كه اسلام آباد وتهران درحل مسئله افغانستان باهم توافق ندارند . نتيجه اين انكشافات چنان معلوم نمي شود بيشتر به نفع افغان ها باشد كه نسبت به گذشته باهم اختلافات خيلي زياددارند .
تلاش ايران بخاطرحل مسئله ازطريق تفاهم وبرگزاري مذاكرات كارخوبي است تااين گره لاينحل را بگشايد اما اين پروسه باخطر درگيري هايي منافع جويانه مواجه است . باتوجه به اوضاع پيچيده افغانستان دست يابي به صلح ازطريق مسالمت آميزتقريباً ناممكن بنظرميرسد درحاليكه پيروزي يكي ازجناحهادرميدان نبرد چنان مينمايد كه يگانه پاسخ اين معماباشد .
چنين پروسه براي صلح درسالهاي قبل، درجريان جهاد ، آغازشده بود اما باتوجه به تحركات بين المللي درگيري به انجام صلح آميزيابان يافت . اكنون نيزهمين استراتيژي را نيروهاي سابقه و تازهوارد بخاطركسب كنترول برافغانستان انتخاب نموده اند وخشونت درتفكربرخي رهبران افغان كه حوادث تاريخ آنها را بالا پرتاب كرده مخلوط شده وآن ها اكنون آنرا درمعرض اجرا قرارميدهند بنابرين مشكل خواهد بود تا آنها ازراه صلح به حل قضيه دست يابند درحاليكه ذهناً باهم اختلاف [illegible] زيادي نيزدارند .

ترجمه قرآنكريم

گزارش مي افزايد كه علاوه برآن علماي كرام ازتمام اهالي نصرت مينه تقاضاكرده اند كه درين حلقهٔ ترجمه وتفسير قرآنكريم اشتراك نموده وهمسايگان واطرافيان خود رانيز به شركت درآن تشويق وترغيب نمايند .